JAN 2 0
Copy ____ 1959

کابل

پرله پسی گڼه ٤٦٢)

ښاغلی دوست شینواری

خدایه!

دازړه رانه واخله یو دردمند غوندې زړه را کړه ته
مینه محبت سوز او گداز په کښې پیدا کړه ته

دازړه رانه واخله دی کښې سوز نشته گداز نشته
غوښه ده که کانې خودمینې په کښې راز نشته
ښه پا که کعبه وه خو وس د کـه له بتانو ده
طورؤ که معراج خو پکښې هغه ناز اونیاز نشته
وائی حرم پرېږده ځه چه ځو د کلیسا په لور
دی بو الهوس کښې د ښیو بدو امتیاز نشته
غواړی جا ېدا دو نه او مانۍ د خاورو وږی دی
بې د خاورو گټو ئی هوس سوز او ساز نشته
داد خاورو وږی تور و خاورو ته پنا کړه ته
دازړه رانه واخله یو درمند غوندی زړه را کړه ته

څه کړم، داسی زړه چه لمسولی وی غمزو د بل
مړی بیا ژوندی شی بیا نڅیږی په نغمو د بل
هاغه احساس نلری چه خپل درد و نه حس کاندی
خاندی او حټیږی په خند او خټیدو د بل
دلته د خوارۍ او ذات ژوندون ته نه گوری
هلته موسکی کیږی او نازیږی په عیشو د بل
وک ئی د خپل ژوند او د خپل مرگ په لاس کښې نشته دی
مری او ژوندی کیږی په اختیار او ارادو د بل
ځان گڼی د بل ورځنی لېری د اسودا کړه ته
دازړه رانه واخله یو دردمند غوندی زړه را کړه ته

کله تصور کښې یوه لویه دنیا جوړه کا
هلته ځان لپاره ښه مانۍ د کسرا جوړه کا
کښېنې بیا په تخت په شرق او غرب نور حکومت کوی
لویه باچائی د سکندر او دارا جوړه کا
مست لکه فرعون د غرور شراب ئی څټلی وی
بیا په خدای پرستو په حرم کښې غوغا جوړه کا
بل حساب کتاب وی خیر او شر وی ټول د ده پلاس
دلته په دنیا کښې آخرت او عقبا جوړه کا
دا بې خو ده زړه لږ د خودۍ سره اشنا کړه ته
[illegible]

No. 462

د ۱۳۳۷ ش کال د اسد ۱۵ د ۳۷۸ ق د محرم الحرام ۱۰ د ۱۹۵۸ کال اگست ۱۰ (۶)

(۲۸ کال) (۱ گڼه

پښتو ټولنې مصوره

اجتماعي ، ادبي ، او تاريخي مجله

دامتياز خاوند : پښتو ټولنه

دپښتو ټولنې مشر : گل باچا « الفت »

مسئول مدير محمد حسن « کاکړ »

پته : کابل - نادر پښتون واټ دپل خشتي په مقابل:

دتيلفون لمبر (۲۱۲۹۱)

د مضامینو فهرست

عنوان	لیکونکی	مخ
زمونږ لوستونکی...؟!	کاکړ	۱
ثقافت	مترجم لایق	۳
څرنګه مجله	ژواك	۱۲
دچین ننني ادب	مترجم (روهی)	۱۵
دشوروی دعلمی هیئت له خوا	کابل مجلې ته لیك	۲۱
جدید	رشاد قندهاری	۲٤
خانګل	بورکی	۲۸
نوټ:	په دې مجله کښې کتاب	د ښاغلی خیبری اثر دی

زمونږ لوستوونکی له مونږ نه غواړی ؟؟

له هغې ورځې نه چه دا مجله ماته سپارل شوې ده ، د مجلې په حقله خبرې او تبصرې زیاتې شوې دی. څوك یو څه وائي او څوك بل څه. ځینې کسان ئې ستائي او بعضې ئې لاغندي هم هغه چه ستا ئې وائي چه مجله د مضمونونو له پلوه ډېره ښه شوې او تر پخوائي ښایسته توپیر کړی دی هغه چه غندي ئې وائي چه د مجلې صحافت ، توري ، شکل او قطع ښه نه ده او پر سپره پر دی طباعتي غلطي هم په مرګ پکښې دی دوی نظریه ښکاره وی چه که داماتی ګوډې ئې ورسمی شي او په همدغسې علمي او اوچتو خبرونو سره راووځي ، نو به مجله په رښتیا میدان وګټي او په لوستونکو په لاهم ګرانه شي یو شمېر نور کسان لا نور څه ګړېږي - داسې کسان چه مجله له ورایه ووینی ترټولو دمخه دېته هڅه کوی چه که په مجلې کښې په زړه پوری ښایسته عکسونه ووینی یعنی دویته له هر څه ړومبی ښایسته او ښکلی تصویرونه ارزښت او ګرانښت لري .

دا راز نظر یې له هرې خوا او هر چا نه چه وي مونږ ته زیات اهمیت لري . همدغه سبب دی چه مونږ ورته په ښه سترګه ګورو او لا هم غوږ په آواز یو چه زمونږ نور ملګري په دی باره کښې څه وائي او څه راز نظر ئې ښکاره وی

ما ړومبی وویل چه د مجلې په باب هر راز نظریه وړاندی کول زما په نظر ډېر ارزښت لري او مخصوصاً زه ورته په درنه سترګه ګورم . دا ځکه چه په دې وختو کښې هغه ښاغلي لیکوال چه دویلو او لوستلو د ذوق له لاسه به یو وخت تل نارام وو ، اوس ټول ساړه پاړه دی د خپرونو او نشراتو په باره کښې ئې بیطرفي غوره کړې او په اصطلاح محافظه کاران یا په بل عبارت سیاستمداران شوی دي ، داند ېښې نور خبره دلته ده چه زمونږ په هیواد کښې داسې سیاستمداران ورځ په ورځ مخ په زیاتېدو دي - اول خو دا راز ښاغلی د ورځپاڼو او مجلو په لوستلو سر نه خوږوی

او که ئې کوم وخت کومه مجله مثلاً د کابل مجله په ګوتو ورغله . یو اځی ئې د سرتکې ګوري او بیا وائي چه افسوس په کاغذ چه بیفایدی تورېږی او که ئې ورځپاڼې مثلاً اصلاح انیس ، او هیواد تر لاسه شو ، یو ازې د باندنۍ پېښې ئې اولی او نور مخونه ئې له ورایه ګوري او وائي چه فایده د دکاندارانو او نصوار فروشو پکښې ډېره ده . که له دوی څخه غوښتنې وشي او دېته را وبلل شي چه ګرانو ښاغلو ! مقالی ولیکیء ! د اصلاح او سمون په منظور خپلی نظر ئې وړاندې کړیء او انتقادونه وکړیء او که بیا هم په ډېر ټینګار ورته وویل شي چه خپرونی ستاسی دپاره دی ، کار کوونکی ئې له ستاسو څخه دی ، له آسمان او یا کوم بل هېواد څخه نه دی راغلي . او دوی ټول هاندیاسې چه دولس او هېوادوالو دپاره د خلکو په ژبه خبرونې وکړي نو دوی بیا په عجیب منطق سره کوښښ کوي چه ځانونه خلاص

کړی نو بیا وائی چه ولس کښی
کښې پوهه نشته، سواد کم دی،
او په پای کښې وایې چه ویونکی
او لوستوونکی یکښې په شمار
دې، نو ندې کېله، دوې پسی
اضافه کوی چه خپرونې ولسی
نه دې او یوازې دیو موټی کسانو
دپاره انحصارشوی دې زه دې
منطق ته سرچپه منطق وایم او
دې ښاغلو ته داسې ځواب ور
کړم چه که زه غلی اوسم، ته
کرار او چپ کښېتی، او هایل
هیڅ ونه وائی، او هغه څلورم
په خپلو شخصی کارو باندی
لګیاوی، او هغه یل دخپل مجلل
ژوندون برابرولو په منظور
د کوټیو، موټرو نو. او بانکونو
په سودا کښې ډوب وې او ټول
لدې څخه ډډه وکړو چه څه
موږ ده وی ولس ته ئې
ونه ښیو او چه په څه پوهېږو،
نور پرې ونه پوهوو، او هغه
څوك چه په رښتیا دولس غم
خوری، له هغوی سره مرسته
ونه کړو، لاس ورنه کړو، او ور سره
اړم نه شو نو به ددې ملك او ددی
وګړو حال څنګه ښه شي؟
خیالی او ایډیالی تولنه تر اوسه
پورې زمونږ د کرې په سر درك
نه لرې، هرچېری او هر ځای
کښی نیمګړتیاوی او ماتې
ګوډی شته. خو په هر ملك کښی،
دولس رښتینی زوی هغه دی
چه یوه ګرۍ بېځایه تېره نه
کړی او د وخت له موجوده
شرایطو څخه د خپلی جامعې
د بهبود او هوسائی په منظور
اعظمې استفاده وکړې.

داچه په دی سره سړتیا.
چپه چپیاوی او بې شوقۍ کښی
زمونږ لوستونکی ددې مجلی
په باره کښی دنظر اظهار کوی
مونږ ته ددې زیری را کوې چه
ددی خپرونې په مقابل کښی
بیطرفی نه اختیاروې. ځکه
چه بیطرفی له عدم علاقی او
یا نهایت محافظه کارۍ څخه
پیدا کیږې. لوستونکی په
ارومرو دیوه اثر له کتنی او
پوهېدلو څخه وروسته متأثره
کېږې، تاثیر په ئې یا مثبت وې
او یا منفی خو په هر حال کښې
به یو څه وائې. د لوستونکو
همدغه څه ویل او یا اظهار
نظر دې چه دیوې مجلې او یا
ورځپاڼې کارکونکی په کار
اچوی مونږ دمجلې د کارکونکو
په حیث دهرچاله اظهار نظر
څخه خوښۍ څرګندوو او
خوښېږو چه لیکوال مونږ ته
خیل نظریات دخپرونې دپاره
دمضمون او یاد لیك په شکل
راواستوی مونږ حاضریو چه
ور نشرئې کړو.

مونږ دا منو چه زمونږ په
مجلې کښې هم ماتې ګوډی
شته دی، صحافت، شکل او
قطع ئې څنګه چه ښائی هغسی
نه ده برسېره پردی تراوسه هم
له طباعتی غلطیو څخه خلاصه
شوی نه ده، او تصویرو ته هغسی
چه دمجلې او مضمونونو له
شان سره برابروې، یکښی لږ
دې او حتی په (۲۰۹) کښی
کښې هیڅ نه وو. مونږ تولو
هغو ملګرونه چه دا نیمګړتیاوې
ئې غندلې دې، کورو دانی
وایو او ورته ډاډ ورکوو چه
دمجلې چلوونکی ددې ماتو
ګوډو سمولو ته ښه ځیردی او
زیار باسی چه داټولې نیمګړتیا
وې لېری شې او لدې وروسته
یوه ډېره دونه او علمې مجله
دګران هېواد دپښتنو له مرګز
نه راووځې. په لمانځنه

م. حسن کاکړ

لیکونکی : طه حسین

ژباړونکی : لائق

ثقافت

ثقافت داسې یوه کلمه ده چه موږ ئې هره ورځ په خپلو خبرو اترو اولیکنو کښې استعمالوو مګر په مونږ کښې هغه خلك چه ددې کلمې په سمه معنی پوهیږي ډېر کم دي ددې کلمې شان بدی باره کښې د هغو ډېرو کلمو شانته ورته دی چه سره له دې چه په ژبو ویل کیږي او په قلمونو لیکل کیږي مګر دویونکو او لیکونکو په مغزو کښې یوه واضحه معنی او ښکاره صورت نه لري

تر ادب او فن څخه کثیر الاستعماله الفاظ په ژبو او قلمونو باندې نشته مګر که له ځینې هغو خلکو څخه چه دا دوه کلمې استعمالوي پوښتنه وکړي چه دوی له دې دوو کلمو څخه کوم شی اراده کوي زه یقین لرم چه د دې پوښتنې په ځواب کښې به ډېر ځله ناوړه ځوابونه واوري او دا ځکه چه ددې کلمو (ثقافت، ادب، فن) استعمال مبتذل شوی دی او په همدغه مبتذل ډول سره د دوی استعمال په خطبو، کتابونو، ورځپاڼو مجلو او مقالو کښې رواج موندلی دی نوله همدې کبله دې کلمو خپلې اصلی معناوی بایلو دلی دی او یا بایلو دلو ته نږدې دي

هرهغه سړی چه په ورځپاڼو کښې څه لیکلی شی ادیب ئې بولي او هم دا راز هغه کسان چه چه ځینې نغمې اوروي او یا ځینې نندارې په دربځ باندې نیسي او یا د سینما د فلم په کوم څرخ کښې لوبې کړي ادیبان او یا فني خلك بلل کیږي او د دې دپاره چه ثقافت د فن او ادب څخه روغ شوی دی نو د نوموړیو خلکو هر فن د ثقافت څښتن هم باله شی او حال دا دی چه دوی د ثقافت د حقیقي معنی مصداق نه دي .

د ثقافت پخوانۍ لغوي معنی دېره لنډه ده او د دې کلمې له اوسنۍ معنی سره بیخي لېرې لېرې یا نږدې رابطه نه لري .

د ثقافت پخوانۍ لغوي معنی هغه (مهارت) دی چه په کوم صنعت کښې به چالاره لکه د ځینو مادي کښو شیانو سمول په یوه خاصه توګه، عربانو به ویل (ثقف الرمح) او مراد به ئې له دینه داوو چه څانګه (نیزه) ئې سمه کړه ګرځا کښې کوږوالی ئې ور څخه وبوست او یوه سمه جنګي وسله ئې ورڅخه جوړه کړه .

وروسته له دې څخه د ثقافت معنی بو څه ارته شوه او د (مهارت) حدود دیوه بشپړ صنعت معنی احاطه کړه هغه هم د داسې دقیقو صنعتونو معنی چه په هغوی کښې مهارت موندلو ډېر ذکاوت او چالاکي غوښتله مثلا په هغه وخت کښې د خالص طلاء او مغشوش طلا سره

بیلول چه په یوه خاص صنعت
کښې مهارت ؤ ثقافت بلل کیده
او هغه څوك چه دا کار به ئی
په ښه شان کولای شوای مثقف
یا ثقف به ئی ورته ویل راوروسته
له دینه دثقافت کلمی له دی
حدودو څخه هم تجاوز وکړ
او داسی یوه پراخه او ارته
معنی ئی ځانله غوره کړه چه په
عقلی او ذوقی ژوند پوری ئی
اړه لرله ، نو په دی دوره کښې
ئې داسی یوه سړی ته مثقف
وویل چه د شعر په علم به ښه
پوهیده او دښه او ناوړه شعر
فرق به ئې کولای شوای او
دداسی سړی صنعت ئی ثقافت
وباله . زمایه گمان کوم سړی
چه د لمړی ځل دپاره ثقافت
په دی وروستنۍ معنی استعمال
کړی وی هغه محمد بن سلام
الحجمي ددریمی هجری پیړۍ
متوفی او د (طبقات الشعراء)
د کتاب لیکونکی دی وروسته
له دی ددی کلمی معنی لازیاته
ارته شوه او په هرهغه مهارت
ئی اطلاق وشوچه په کوم عقلی
علم او یاذوقی فن کښې به دچا

گوتو ته ورته راوروسته له دی
د نوی پیړۍ ترلمړیو وختو پوری
دا کلمه نیږدی وه چه بیخی
هیره شی مگر د نوی پیړۍ له
شروع سره دا کلمه دمصر متجددو
ځوانانو بیا استعمال کړه او
د فرانسوی کلمی (کولتور)
په معنی ئی ومنله ، او همدا
وړ تحول کوم چه د پیړیو په
مرور کښې دثقافت معنی منلی
ده د (کولتور) معنی ئی هم
تیره کړی ده (کلچر) د لمړی
ځل دپاره د یوه مادی شی په
معنی کښې چه (زراعت) دی
استعمال شوی دی او بیا وروسته
له تدریجی تحولاتو څخه دی
نوی معنی ته راغلی دی چه موږ
له هغه څخه ثقافت تعبیروو
اوس مثقف سړی ددی نوی معنی
له لحاظ هغه سړی تره ویل کیږی
چه هغه د راز راز او وړ وړ
پوهنو خوند اخستلای شی او
برسیره پر دی دپاك زړه ، صفا
ذوق ، مهذبی طبیعی او نافذ
بصیرت څښتن وی او داسی عقل
ولری چه ستایه هغو خبرو پوه
شی کومی چه ورته ئی دوړ وړ

پوهنو په باره کښې کوی او داسی
حال ته رسیدلی وی چه که
چیری دپوهانو راز راز خبری
واوری او یاد ارتیستانو وړوړ
فنون ووینی او یا د سیاسیونو
اقتصادیونو سیاسی او اقتصادی
خبرو ته غوږ کښیږدی په ځان
کښې دنا پوهۍ شعور احساس
نکړی او یا په بل عبارت سره
مثقف سړی هغه چا ته ویل کیږی
چه دپوهنی ذوق او مینه ولری
او له هغی څخه متأثر شی او په
پای کښې ددې کلمی په بشپړه
معنی یو انسان شی او هغه هم
داسی انسان چه په هیڅ وطن او هیڅ
محیط کښې ځان پردی و نه بولی
او دهیچا او هیڅ وړ خبرو له او
ریدو څخه په ځان کښی کوم
اضطراب او نا کراری حس نه کړی
او له هغو خلکو څخه مایوس نشی
او هڅه وکړی چه دهغوی په خبرو
پوه شی او خبری وربا ندی وکړی او
داسی یو حقیقی تړون دهغوی او خپل
ځان ترمینځ راولی چه له زړه
او ذوق او عقل څخه ئی الهام
اخستی وی او دده رضا او کرکه
پیدل او نه پیدل په دی تړون

باندی کومه بده اغیزه ونکړی.

بیا وایم مثقف سړی هغه څوك دی چه دهیوادونو او محیطونو بدلون او اختلاف په ده باندی بده اغیزه ونکړی او دی ددی مختلفو محیطونو له تطور سره دتوافق توان ولری، او په پای کښی تقف سړی هغه څوك دی چه له علومو او فنونو څخه داسی مستفید شوی وی چه په اشیاؤ باندی داسې حکم وکړی چه یا صحیح وی او یا صحت ته نږدی وی، دداسی ثقافت درا وستلو لاره په دی پیړۍ کښی یواځی تعلیم دی، مگر هیره ئې نکړیء چه له تعلیم نه دلته مراد هغه وسیع تعلیم دی چه ددی پیړۍ خلك یی پیژنی او هغه د کچنیوالی له تعلیم نه نیولی دځوانانو تر تعلیم پوری چه په ښوونځیو او پوهنځیو کښی ئی اخلی او بیا هغه پوهنی چه خلك ئی وروسته له ښوونځیو او پوهنځیو څخه دځان دپاره اخلی تول احاطه کوی.

دثقافت دائمی صفت دادی چه همیشه ناقص وی او تل دتکمیل او پراختیا تلو سه لری، مثقف سړی هرڅومره چه په علمی چارو کښی وسیع معلومات او ژور تحقیقات او پراخه مطالعه ولری سره له دی هم له خپلو معلوماتو څخه راضی نه وی او غواړی چه لاهم خپل معلومات زیات کړی او په مخ لاړ شی او داددی دپاره چه د مثقف سړی او عالم سړی تو پیر دثقافت ددقیقی معنی په اعتبار چه خلك یی په دی پیړۍ کښی منی ظاهر او څرگند دی، هغه سړی یو علم زده کړی او په هغه کښی تخصص ومومی او بیا دهغه علم له لاری څخه خپل ژوند تامین کړی مثقف باله شی، مگر داسی هم کیدای شی چه یو سړی په کوم خاص علم کښی تخصص ونه لری او خپل وخت او زحمت یی دمعرفت په کومه خاصه څانگه کښی نه وی تیر کړی او سره له دی هم مثقف ورته وویل شی. مثقف سړی پوهیږی چه دی دداسی معجز و ابتکار نشی کولای چه دنورو علم او پوهه دی هلته ورونه رسیږی.

دپورتنی بحث په اساس مرنږ دی نیتجی ته را رسیدلی یو چه ثقافت دمکان او زمان له تو پیر سره تو پیر پیدا کوی او ددی دوو عاملو له اختلاف سره ددی کلمی په تغییر کښی هم اختلاف راځی مثلا (هرودوت) یخپلی پیړۍ کښی یو مثقف سړی باله شی او داددی دپاره چه داسړی ډیرو ملتونو او هیوادونو ته ننوت او په داسې حال کښی چه دهغوی په ډیرو شئونا توئی ځان پوه کړ ځان ور ته نابلد او پردی ښکاره نه شی، له بلی لوری (هرودوت) په عین وخت کښی مؤرخ هم ؤ ځکه چه ده موږ ته دیونان او نورو خلکو تاریخ هم تر هغی اندازی چه ده ته په هغوی باندی دپوهی امکانات موجود وو روایت کړی دی، خو سره له دی هم تاسو یو تن له معاصرو مؤرخینو څخه غوره کړیء زه یقین لرم ستاسو غوره کړی سړی (هرڅوك چه وی)! هرودوت څخه په ثقافت کښی ستر او په تاریخی تخصص کښی پیاوړی دی او داځکه چه دخلکو علم او

ثقافت دورځوله بدلانه سره گام
په گام پراخیږی .

یا که چیری په کوم مثقف
او قوی ملت باندی جهل او ضعف
مسلط شی داددی معنی نه لری
چه د دی ملت علم او ثقافت به
بیخی پوه پنا کیږی بلکه دا
ثقافت به کوم بل ملت او یا څو
نورو ملتونه کوچ وکړی :
ددی خبری دمثال دپاره هغه
وختونه یاد ولای شو چه هلته
یونانی ثقافت د عربو لاس ته
ورغی او کوم وخت چه عربان
مخ په ځوړی شوه ددوی ثقافتی
میراث اروپایانو ته لاړشه او
اروپایان دومره ددی ثقافت
مینځ ته ورننو تل چه عربان
هغومره ژورنه وو ورننونی،
اروپایانوله دی ثقافت څخه
پوره استفاده وکړه او ډیر
نوی شیان یی هم ورباندی زیات
کړل گواکی اروپایانو هغه
کار دعربانو په میراثی ثقافت
باندی وکړ کوم چه عربانو
دنور و ملتو په ثقافت باندی
کړی وو.

په غالب گمان سره نن هغه
ملتونه او قومونه چه دثقافت په
ډگر کښی وروسته پاتی دی
خپلی علمی نیمگړ تیاوی له
اروپایانو څخه پوره کوی، هر
کله چه دوی خپلی دغه نیمگړ
تیاری پوره کړی او په دی پوه
شی چه له دی نوی اخستلی شی
څخه څنگه استفاده وکړی او
ددی نوی شی او میراثی شتمنیو
ترمنځ چه له یلرو ورپاتی دی
یو ملائمت او تناست راولی او
یا په بل عبارت څنگه ددی دوو
شیانو څخه داسی یو مرکب
جوړ کړی چه ددوی له مزاج
سره موافقت او جوړښت ولری،
نو دغه وخت دی چه دا ملتونه
بی له شك او تردید څخه دثقافت
په دقیقه معنی مثقف شوی دی،
او ددی خبری معنی داده چه
دوی یوازی دپردو خلکو او
یا خپلو نیکونو څخه دثقافت
په اخستلو او یا نقلولو کفایت
ندی کړی بلکه خپل مأخوذ
او منقول شیان ئی تمثیل کړی
دی او په هغو باندی یی له خپلو
ځانو څخه نور شیان هم زیات
کړی دی .

ددی تیرو خبرو معنی داده
چه ثقافت او علم یوازی په کوم
خاص ملت او یا کومی خاصی پیړۍ
پوری ندی تړلی بلکه هر سړی
کولای شی چه دعلم او ثقافت
خاوند شی او په دوی کښی زیاتوالی
راولی خو دومره خبره ده
چه دا کار به دغوښتنی او وسائلو
په څرنگوالی پوری اړه لری
له دوهمی جگړی څخه وروسته
اروپایان په دې بخت شول چه
خپل اروپایی ثقافت تحلیل
کړی او په داسی اصولو باندی
یی ودروی چه دیوه نوی او
پیاوړی یورپ دجوړولو امکان
ورکړی لکه چه همدغه کار یی
وکړ او ننی نهضت او تفوق یی
راوست .

(بول فالیری) فرانسوی
نامتو شاعر نوی اروپایی عقل
ددریو اصولو مولود بولی چه
هغه دری اصول دا دی : اول
یونانی فلسفه ، ادب ، علم او
فن ، دوهم رومی نظام، تشریع
سیاست او حرب، دریم مسیحیت
دی چه هغه یورپ ته اخلاقی
قیمتونه او د احسان انصاف او

عدل لوړ مثالونه ورکړی او د
یورپ خلك یې پوه کړی چه
خلك تول په حقوقو او واجباتو
کې سره گډدي او دا ددی
دپاره چه دوی گرد سره په
انسانی طبائعو کې شریك دی او
همدا انسانی طبائع دی چه
طبیعت یې وپیژانده او د هغه
سره یې د مبارزی لار پیدا
کړه او و پوهیدل چه مځکه
څنګه استثمار کړی ترڅو چه
تول خلك او تول ملتونه له هغی
نه برابره گټه واخلی .

دعلم له شیندلو او د هغه له
نتائجو څخه د گټی اخستلو نه
ډډه کول نا پوهی را ولی او
ناپوهی د کمزوری او انحطاط
سبب گرزی ، او همدا راز له
یوه عالی نظام ښه قانون او
پیاوړی سیاست څخه ځان ژغورل
یوه اضطراب او اړو دوړ ته
زمینه برابرول دی او همداسی
له اخلاقی اصولو څخه انحراف
کول ظلم او تری ته لاس اچول
دی لکه چه همدغه اخلاقی
انحراف سبب شوی دی چه
اروپایان لاتر اوسه هم دانسان
دبنده کولو او غلامولو خیال
له ځان سره ساتی .

موږ لره په کار دی چه
خپل عربی ثقافت او هغو کمزوریو
ته چه دی ثقافت ته راغلی
دی په داسی یوه انتقادی نظر
وگورو لکه چه اروپایی ثقافت
ته گورو او دا د دی دپاره
چه هغه اصول چه اروپایی عقل
او ثقافت ورباندی ولاړ دی له
هغو اصولو سره چه زموږ عربی
ثقافت ورباندی دریدلی دی ډیر
کم توپیر لری ، ځکه چه موږ
هم د یونانی فلسفې او ثقافت
څخه او بیا د یونان له علم ،
ادب او فن څخه پوره برخه
اخیستی ده همدا راز موږ د تولو
هغو اولسونو له نظام او کړن
لارو څخه متأثر شوی یو چه له
موږ څخه په مدنیت کی وړاندی
تللی دی د مثال په توگه د بنی
امیه په وخت کښې له بیزانس
څخه او د عباسیانو په وخت کښې
د فارسی او خراسانی ثقافت
څخه برخه لرو ،

هغه وخت چه مونږ په خپل
وطن کښی فقهی او تشریعی
اصول ایښودل په هغو اصولو
کښی خانی د نورو ملتو د تشریعی
اصولو څخه متأثر شوی یو لکه چه
په پخوانیو پیړیو کښی له روم
څخه او په اوسنیو پیړیو کښی
له یورپ څخه .

که د عربی ثقافت د کمزوریو
او ضعف اسباب په ځینو
پیړیو کښی وڅیړو داسی نتیجی
ته رسیږو چه نو موږی ضعف
د ثقافت د اصولو څخه د انحراف
کولو په وچه پیدا شوی دی او
هغه اصول هماغه دی چه موږ څه
وړاندی ورباندی وغیږیدو .

اوس نو موږ په دې خبره پوره
پوه یو چه لاره بیخی ښکاره
او معلومه ده او منصفو خلکو
ته د دی خبری پوره امکان
شته دی چه دالاره تعقیب کړی
د دی لاری پریکولو موږ دی ته
اړ کړی یو چه د علم او ثقافت
په وسائلو لاس پوری کړو او
په دی لار کی هیڅ وړ شك او
تردیدونه منو بلکه که لازمه
شی له درنو قربانیو ورکولو
څخه هم ځان ونه سپمو تر څو
چه د دی امکان پیدا شي چه

موږ یوه رښتنی او عالی ثقافت ته ځان ور سووه که چیری موږ په رښتیا سره یوه داسی لوړه ترقی غواړو .

چه هغه لمړی دملت دمختلفو افرادو په منځ کښی د یوه حقیقی مساوات تحقق راوستلای شی او بیا زمونږ او نورو ملتو تر منځ یوه سمه برابری روزلی شی، نو موږ لره داښائی چه خا مخاله اړدوړ او بی انتظامی څخه ډډه وکړو او یوه معین نظام ته غاړه کښېږدو او همدا راز اخلاقی اصول دیوه پیاوړی قانون په حیث محترم وبولو او هغه هم داسی چه په ټولو پیښو کښی دهمدی لوړ قانون په اساس خپلی راشه درشی اورا کړه در کړی فیصله او حل کاندو، په پای کښی زموږ تشریعی نظام داسی وی چه لمړنی بنائی داحسان او ایثار څخه روغه شوی وی.

زه نه غواړم چه له ثقافت څخه چه زما دخبرو موضوع ده لیرې شم او داچه زه له دی موضوع څخه څه لرې شوی یم دهغی علت دادی چه یوازی دثقافت سره مینه بس نه ده بلکه لازمه ده چه ددی مینی په اړخ کښی دثقافت وسائل اولادې هم وڅېړلی شي او زه همدی څېړنی څه لیری کړی وم.

موږ باید دتعلیم وسائل داسی تنظیم کړو چه زمونږ تعلیم لرونکی ځوانان دی ته تیار کړی چه مثقف سړی ورځنی جوړ شی،

زما په عقیدی یوازی دلوړو درجو او شها دتنامو اخیستل دځوانانو څخه مثقف سړی نشی جوړولای ترڅو پوری چه داځوانان دنابلدی هغه شعور چه دنورو هیوادو او نورو پیړیو دخلکو په حق کښی ئی لری له ځان څخه ورک نکړی. گواکی داځوانان وکولای شی چه دیوه اروپائی سره داسی وغږېږی چه هم هغه اروپائی په خپل مطلب پوه کړی او هم ځان دهغه په خبرو پوه کاندی او هم داراز دیوه دیوه چینائی امریکائی او هندی سره.

ددی ټولو خبرو معنی داده چه تعلیم باید دانسانی ملکاتو نکوین او بشپړولو ته متوجه وی او فردته ددی امکان ور کړی هروخت دعلم اخستلو او پوهی زیاتولو ته چمتووی، او پوه شی چه دژوندانه په هره گړی کښی پوهنی ته صخت اړدی. دیوه مثقف او ازاد عقل ممتازه نښه داده چه سره له دی چه بشپړتیا غواړی دنیمگړتیا احساس او شعور تل ورسره موجود وی او یقین لری چه بشپړتیا او کمان ته رسیدل سره له ډېرو ربړو گانو ډېرو زده کونو او ډېر تجاربو اخستلو بیا هم مشکل کار دی، خو دی، سره له دې هم تل دغه کمال او بشپړتیا لټوی. اوس نو مونږ خپل ځان څېړو چه موږ له دی ټکی څو مره لیری یو؟؟..

زمونږ او ددی ټکی ترمنځ ډېره فاصله پرته ده. ځکه زیاتره عربان لاتر اوسه دی اندازی ته نه دی رسیدلی چه له یوه هندی. امریکایی، روسی اریا چینایی سره داسی خبری وکړی چه له هغه څخه په څه پوه شی او یا هغه په څه پوه کړی.

او که چیری وویل شي چه دا نقص په یوه اروپائی سړي کښی هم پورت دی، زه ددی اعتراض

په ځواب کښې وایم چه نه داسې
نوی بلکه په دې برخه کښې دیوه
اروپائي او عرب ترمنځ ښکاره
توپیر موجود دی او هغه دادی چه
هر کله یو عرب اروپائي سره
مخامخ شي، اروپایي له خپلې
پوهې څخه زر نه مایوسه کیږي
بلکه ددې دپاره چه ځان د عرب
په مطلب پوه کې او خبرې ورسره
وکوي له رازو از وړوړ پلمو
څخه استفاده کوي او رنګ رنګ
حیلې او بوي، مګر عرب زر مایوسه
کیږي او ددې لپاره چه له دې
اروپایي سره خبرې وکړي هیڅ
زحمت نه مني بلکه هڅه کوي
چه له دې سړي څخه چه نه دده
په ژبه خبرې کولای شي او نه
دده په څیر ښه لرې ځان لېرې
کړي.

دا توپیر له کوم ځایه راغلی
دی؟ عرب په ښو ونځي او پوهنځي
کې په زړه پورې تعلیم نه دی
اخیستی بلکه یو اځي یې د امتحان
د تیرولو دپاره ځینې درسونه
یاد کړي دي او وروسته له امتحان
څخه یې بیا هغه ټول حفظ کړي
شیان هیر کړي دي او زر تر زره یې

خپلو هغو مادي منافعو ته مخ
اړولي دي کوم چه ده ته ددې
امکان ورکوي چه دورځنې
مصارفو مدرك پیدا کړي او پرته
له دې په ژوندانه کښې کومه بله
طمع او توقع نلري، نه د ځان
دپاره کوم بل شي غواړي نه د خلکو
دپاره، ګواکې داسې یو سړي
ور څخه جوړ شوي دي چه لکه
نه ده دنیا لیدلي وي او نه دنیا دي
لیدلي وي.

داسې تعلیم نه د کوم هیواد
د غوښتنې سرته رسولای شي او نه
د کوم ملت او قام مجد او لوړ
والي ته د خدمت کولو توان
لري، ګواکې په هغه وطن کښې
چه داسې تعلیم روان دې د هغه
د ماضي او مستقبل ترمینځ هیڅ
وړ ملائمت او تناسب نه راځي.

زه له پورتینو خبرو څخه دا
اراده نلرم چه عربي مصر د ثقافت
په لاره کښې هیڅ ندي کړي بلکه
زما مطلب دادی هغه ګامونه
چه اوسنی مصر د ثقافت په لاره
کښې اخیستي دي سره له دې چه
د عثماني مصر او د تیرې پیړۍ د مصر
له ګامو څخه ارت او پیاوړی دی

بیا هم د مصر او انسانیت
د هیلو په نسبت ډیر لنډ او کمزوري
دي او دا ځکه چه مصر لکه د نورو
هیوادو په څیر یو هیواد ندي بلکه
دا داسې یو هیواد دي چه د ختیځ
او لویدیځ په جغرافیوي مرکز
کښې پروت دي او داسې وضعیت
لري چه نه د انساني دنیائي له ده
نه رغیږي او نه د ده بې له ټولې
انساني دنیا نه بلکه هر هغه ګام
چه مصر په ثقافتي، سیاسي،
اقتصادي او علمي چارو کښې
اخلي هم هوغو مره د ده د ژوندانه
غوټي او مشکلات زیاتیږي او همدغه
مشکلاتو په تناسب د ده اړتیا
انساني نړۍ ته زیاتوالي مومي.

زموږ پخوانی شاعر وایي:
«څوك چه ژوند کوي اړتیاوي
یې پای ته نه رسیږي».

دا خبره رشتیا ده مګر د واقعیت
بشپړه معنی نکوي ځکه چه
نوموړي شاعر دا ټکي هیر کړي
دي چه (اړتیاوي ئې ورځ په ورځ
زیاتوالي مومي).

هر وخت چه د انسانیت احتیاجات
زیات شي د ولسونو او ملتونو
اړتیاوي متقابلې مرستې او

سره نژدی کیدو ته په هماغه
نسبت زیاتیږی، په هره اندازه
چه دشرق اوغرب نژدی والی
زیاتوالی مومی اوهرڅو مره چه
ددی نژدی والی په انواعو او
رنګونو کی زیاتوالی راځی نو
دانسانی نړۍ احتیاج مصرته
هغومره زیاتوالی مومی او دا
ددی دپاره چه مصرله یوی خوا
دشرق او غرب دتګ راتګ لاره
اوله بلی خو ادافریقی یوطبیعی
مدخل دی او بیا په داسی حال
کښی چه افریقانوی خوځیږی
اودمدنیت پـه لوری ګامونه
اخلی، افریقا په لومړۍ مرحله
کښی مصرته اوپه دوهمه مرحله
کښی شرق او غرق ته اړتیا
لری .

دا پورتنۍ اړتیاوې چه په
مصر پوری تړلی دی مصرلره په
انسانی نړۍ باندی یوراز حق
ثابتوی او همدا رنګه په مصر
باندی دنوری انسانی نړۍ په
مقابل کښی ځینی واجبات زدی
مګر زما مطلب دلته مصر
دحقوقو یا دونه نده بلکه زه
غواړم چه د هغوواجباتو څخه

چه د مصر په غاړه دی خبری
وکړم، زما عادت دی چه
د مسئولیتونو او واجباتو په
یادولو حریصانه هڅه کوم او
خوښیږم چه نورخلك هم داحرص
ولری یعنی پخوا له دینه چه
دخپلو حقوقو غوښتنه وکړی
خپلو واجباتو ته ملا وتړی .

ددی تولو خبرومعنی داده
چه مستقبل ژوند په مصر باندی
دالازموی چه دخپلوزامنو برخه
په علم او ثقافت کښی ورځ تر
ورځی بلکه ساعت تر ساعته زیاته
کاندی او دا خبره به هلته
امکان پیدا کړی چه په تعلیم
کښی داسی قوت موجود وی چه
هلکان د ثقافت تلقی ته چمتو
کاندی .

که څه هم تعلیم د ثقافت
اساس دی مګر بشپړ ثقافت ندی
ځکه چه بی له تعلیم څخه نور
عوامل او شرائط هم شته دی
چه بی له هغوعواملو څخه ثقافت
نه روغیږی د ثقافت دروغولو
یواځنی لار داده چه ځوانان
دپوره تحقیقاتو دپاره اماده شی
او بیا دی له هغو څېړنو او

ګرېږونو څخه سمه استفاده
وشی .

ما پخوا وویل چه مثقف
سړی هغه څوك دی چه د وطن
او قوم او محیط څخه دلېری
کیدو په وجه ځان یوازی او
پردی ونه بولی اودغربت شعور
ورکښی پیدا نشی او داکار
هله کیدای شی چه تعلیم او
روزنه ځوانانو ته ددی امکان
ورکړی چه دهغوهیوادو، ځایو
او انسانی ظروفو څرنګوالی
وپیژنی کوم چه تردوی چارپیر
شوی دی، اوهمدا راز، یوسړی
هغه وخت مثقف باله شی چه
خپل وطن، ملت، اومحیطی ظروف
وپیژنی، نوله دی کبله تعلیم
وظیفه لری چه د وطن، ملت او
محیطی ظروفو دپیژندلو مبادی
ځوانانو ته وښیی لنډه داچه یو
مثقف سړی باید د خپل وطنی
اوباندنی محیط په څرنګوالی
پوره پوه شی اوددی مطلب دسرته
رسولو دپاره تعلیم باید داسی
لاری وڅاری چه دهغوپه مرسته
د مختلفو ملتونو او قومونو
خصوصیات اوڅرنګوالی ښکاره

شی مدنیت لرونکو ملتونو دهمدي
مطلب دپاره په خپلو ښوونځیو
کښې مختلف علوم تدریسوی
او هڅه کوی چه زده کوونکو ته
ددوی خاص ملی تاریخ او دهغه
په اړخ کښې دبشر عمومی تاریخ
او همدا راز خصوصی او عمومی
جغرافیه وړاندی کړی او بیا په
ثانوی دوری کښې هغوی ته دادب
مبادی او د هغه زاړه او نوی
رنګونه د دوی په ملی ژبه
وروښیی ، او داددی دپاره چه
هغه وخت چه ځوانان دنوموړو
موضوعاتو سره مخامخ کیږی
و کولای شی چه دمطالبو عمق
اودقت پیدا کړی .

که ومنو چه دثقافت یو اصل
دپخوانیو میراثونو ژوندی کول
دی نو ددی خبری معنی به دیوه
مصری په حق کښې داسی وی
چه دی د فرعونی مصر، رومی
مصر، یونانی مصر او اسلامی مصر
میراثونه داسی له ځان سره لری
چه هر وخت ورته اړشی دهغوی
فهم او درك کولای شی او داچیری
آسان کار ندی ځکه چه ددی
موفقیت لپاره لږ تر لږه د هغو
ملتونو پیژندنه ضروری ده کوم
چه مصر په نوموړیو پیړیو کښې
د جګړی او یا روغې په حالت
کښې له هغوی سره راشه درشه
لرله . د دی کار سر ته رسول
او زده مزلو نه غواړی، یو مصری
مجبوروی چه ددی کار دانجام
دپاره دپخوانیو او منځنیو پیړیو
یو بشپړ تاریخ زده کړی او دهغو
آدابو فهم ته ځان ورسوی چه
ددی تاریخی دورو په مختلفو
پیړیو کښې یی کوم امتیاز موندلی
دی، او بر سیره پردی دا مصری
مجبوریت لری چه ټول هغه
ملتونه وپیژنی چه د مصر سره
په اوسنۍ پیړۍ کښې کومه
ددښمنۍ او یا دوستی رویه لری،
ددی کار یو اځنۍ وسیله په
پردیو ژبو پوهیدل او د پردیو
آثارو لوستل او بیا دهغو ترجمه
شول دی د هغو خلکو دپاره چه
په پردیو ژبو نه پوهیږی .

پورتنۍ خبری هغو خلکو ته
چه د تعلیم دلا رښوونی وظیفه
په غاړه لری داښیی چه دثقافت
او علم دتعمیم دپاره دخارجی
ژبو تعلیم اوزده کونه یو لازمی
او حتمی شرط دی او د ویته
لازمه ده چه د پردیو ژبو په
تدریس او تعمیم کښې خپله نهائی
هڅه وکاندی . که یو رښتینی
مثقف سړی و غواړی چه په یوه
علم کښې بشپړ تخصص پیدا
کړی نو ده لر مښانې چه لږ تر
لږه دوه یا دری پردۍ ژبی زده
کړی او هغه ژبی هم باید
دنړۍ داسی مشهوری ژبی وی
چه په علم ، ادب هنر او فلسفه
کی په زړه پوری ذخیری ولری .

که څه هم یوه فرد ته دا
امکان نشته چه ددنیا اکثره
ژبی په ښوونځی کښې زده کړی
مګر دا امکان شته دی چه په
ښوونځیو کښې دنړۍ ټولی ژبی
زده شی او شاګردانو ته اختیار
وو کړل شی چه له ټولو ژبونه
یو اځی دوه ژبی دزده کولو
دپاره غوره کړی . هغه څوك
چه په رښتیا سره مثقف وی ددی
توفیق نشی موندلای چه خپل عقل
یو اځی دیوه معین ثقافت دپاره
محاط کړی بلکه هغه دخپل نفس
او فکر دروازی دهروړ ثقافت
دمنلو دپاره (سره له دی وچه

(یاتی په ۳٤ مخ کښی)

څیړونکی محمد دین (ژواك)

څرنګه مجله؟

دی ډول عناوینو حتی پوښتنو ته مجله کله کله ضرورت لری نو ځکه زه ددی مقالی په لیکلو دنا مورد لفظ، جملی او عبارت سره ځان مخامخ نه بولم.

مګر که څوك ووائی چه دا سوال دمجلی دا ډول لیکنی سره (ادبی، تاریخی، اجتماعی) چه دمجلی په سر کښی لیکل کیږی او هر وخت حل نه شی کولای؟

دلته یا په همدی وخت کښی به دڅوك او چا پر ځای زما ځواب دا وی: (یه!)

ځکه زه ادبی، تاریخی او اجتماعی نومونو نه عام بولم او دوخت، زمان او مکان په لحاظ په تخصیص ورته قایل یم، یعنی ددی ضرورت احساس را سره پیدا کیدونکی دی، چه ووایم ادب برای ادب که ادب برای زندګی، یا دتاریخ تاریخ که دانسان تاریخ - دانسان تاریخ که دپښتون تاریخ؟!

کومه اجتماع - دشرق که دغرب دغربی منطقی که دسمی - دعالمی اجتماع که دبی علمه اجتماع - دمړی ټولنی که دوږی او بی بسه ټولنی؟!

اوس خو به نو ما دخپل تا کلی عنوان په غوره کولو او بیا دهغه دپاره دتشریح او تفصیل په جرم څوك بی موره نه بولی؟

خیر په هر حال غواړم چه دځینو په اصطلاح (حاشیه نروم مطلب ته راشم او مقصد ووایم - هغه دا چه زه دقومونو دپاره من حیث القوم په خوی او کړو قایل یم یعنی هم خوی لری چه اخلاق ورته ویل کیږی.

او هم کړه چه افعال ورته وایه شی

خو دا چه دا خوی به دڅه شی نه متأثر کیږی یا دا چه دا فعل به دکومو جذباتو په تحت کښی وی دا سوالونه بیا بیل بولم.

اوس نو چه قوم من حیث لاانسانی ټولنی مونږ دخوی او کړو خاوندو باله، دلته باید دا ووایم چه پښتون هم ځانته قوم او دځانته خوی او کړو خاوند دی.

څرنګه چه پښتون دیو ډول خاص خوی او خاص ډول کړو خاوند دی (دا بیل سوال دی چه صورت جسمی یا دکلچر کلیه په ټولو کښی یو شانته ثابته ده) نو دا مجله باید دپښتون قوم هنداره وی.

یعنی لکه څرنګه چه دلایف (ژوند مجله دژوند خبری کوی دا مجله باید لایف و بلله شی او دپښتون قوم.

دا خبره کول چه ژوند عام دی او مجله پر خاص مطلب بنا ده - دلته زه وایم مجله باید دخپل مطلب (کلچری تعارف) دا ریکی په اعتبار د ژوند دټولو بر خو سره کارولری.

ښه! بده خو به نه وی چه لږ شانته خپل پر اګراف

دابضاح خوانه را وبولم هغه
داچه زه وایم که دغه مجله
ادب دخپلو ځانکو سره څېرل
غواړی نو باید د پښتون ژبه.
دژبې دمطالبو افاده او استفاده
یه عامه لهجه وی که یه خاصه لهجه
یه نظم وی که یه نثر سره
داوس اومضی یه اعتبار د دیر
تأثر اولیز تأثر یه وجه د دبل
څخه که دهمدی ژبې اثر وی
پر دوو - همدغه برخه باید
وخیرله شی او د شفوی رنګ
له تحریری او اخباری رنګ ته
راواړی.

په تاریخی حیث:

مونږ څوك ؤ او چیری
کله یه کوم ځای کښې ؤ؟ مونږ څه
کړی او دچا سره؟ نو روڅه و کړه
او دمونږ سره؟ کله او چیری؟
تر کومو عواملو لاندی؟ د کومو
عللو یه اثر؟ نن هم هغه علل
شته که له منځه ولاړل؟ که شته
دثبوت سبب ئې کوم دی او که له
منځه ولاړل دله منځه وړلو علل
ئې کوم دی؟

یه همدغه تحول یا ثبات کښې
زمونږ اراده تر کومې اندازې
شریکه وه. ارز مونږه اراده
چیری اووای د نژل زل سره
مخامخ کیدله؟

نن مونږ له څه بسویه او څه
یکار؟

داؤ زمؤ نیز د تاریخ د برخې
ایجابات زما یه نظر چه مجله
ئې یه خپرولو ځان ستړی کړی.

اجتماعی برخه:

دلته له ماسره داسوال تر هرشی
مهم ښکاریږی چه زمونږ
اوسنی اجتماعی داجتماعی
احساس خاوند دی که یه؟!

که دیه کومو برخو کښې ئې
نیمګړتیاوی موجودی دی او
دهغو نیمګړتیاؤ بوره کول
زمونږ یه لاس کیږی که څنګه؟

که کیږی یه دی لار کښې
زمونږ برخه کومه او دهغې
برخې دپوره کولو دپاره له مونږ
سره سائل شته؟

که وی مونږ یه همدغو
وسائلو کولای شو چه دا نیمګړتیا
وی پوره کړو؟

او که نشته وسائل څرنګه
لاس ته راوړو؟

دلته مونږ کافی یو که
بل قوت هم له مونږ سره ممد
کیدلای شی مثلاً مونږ دنورو
داجتماعی زوند نفوذ او ورمد
د تجارب و څخه یه کار ضرورت
څه دول سره استمداد کړلای شو.

آیا داستمداد یه وخت کښې
یه یه مونږ کښې داقوت موجود
وی چه مونږ ځان من حیث ځان
وسائلای شو داخودی یه مونږ
کښې موجود دی که یه؟!

که نه وی موجود دی دول
قوتونو ته نژدی کیدل څرنګه
بولی؟

داوی له ماسره ځینې پوښتنې
چه مالیږی او دیری ولیکلی او ځواب
ئې راته بولوی بحث ښکاری چه
یه همدی مقاله کښې ئې ویل مقاله
اوزدوی او تقریباً ما دخپل
معین عرض څخه منصرف ښئی.

خو اصلاً دا پوښتنې
ښائی چه یه ضمنی دول وشی
خیر دلته ممکن ما د همدغو
پوښتنو سره سره خپل عرض هم څرګند
کړی وی او یه دی شان چه دا
مجله باید د پښتون قوم
دژوند تفسیر او تصویر وی یعنی
که څوك وغواړی چه
پښتون ځان من حیث القوم
وپیژانی (دماضی او حال یه اعتبار)
نو همدغه مجله باید دا خدمت

و کړای شی د لته داسوال هم
پیدا کیدلای شی چه په همدی
مجله کښی به د پښتو ن برخه
د ځان پیژندلو نه علاوه، د بل
د کلچر د پیژندلو په حقله څه
وی!

د ې دول پوښتنی ته به زما
ځواب داوی - چه دا کار که
به مقایسوی دول وشی بده به نه
وی یعنی کله چه مونږ حضرت
رحمان ښود، دده د اخلاقیاتو
سره باید د نورو اخلاقیاتو او
مورلستانو نظریات هم وښودل شی
یا کله چه مونږ د خوشحال بابا
حماسی برخه ښودله باید د هومره
حماسی برخه هم ورسره په
مقایسوی دول ذکر شی .

دلته زه دا خبره هم ضروری
بولم چه په دی برخه کښی د نورو
هغه برخه ادب هم وښودل شی چه
پښتون قوم د حال او محل په
اعتبار نه وی ورسره آشنا؛
زه دا کار هم مفید بولم خو که
د دې کار چیه و شی یعنی مونږ
د نورو هر هر څه خوښ کړو او
هغه قوم ته وړاندی کړو طبعاً؟
مونږ قوم د خپله ځانه بیګانه
او غیر پرست کول غواړو چه
دا کار نه دا چه د قوم د موجودیت
د پاره مفید نه دی بلکه قوم
د کلچر په لحاظ فنا کوی او په
بل کچر ئی خوړل غواړی .

زه دا نه وایم چه مونږ اصلاً
نامتحول او لایتغیر مخلوق یو
دا کار نه کیږی او ورته هیله
کول هم ښه کار نه بولم خو دا چه
څوک ځان به یوه شی وخوری او
ځان به هضم کړی دا یو
سوال دی یا دا چه قوم پخپله
و خوړل شی او محوه دی کړه شی
موجودیت دی له منځه ولاړ شی
دا کار ګناه بولم .

راغلو دی خبری ته چه دی
غرض سر نه رسول تر کومه حده
ممکن دی چه قوم موجود پاتی
شی او د بل قوم د خوړلو او هضم
کولو نه خلاص شی د لته
زه وایم دا را ده باید په قوم
او ځان کښی وروزو خو دا چه
دا کار څنګه کیدو نکی دی
او په څومری مدت دا خبره بیا که د
زه صرف د پښتون د موجودیت
د له منځه وړلو په غرض د پښتنو
دیوها نو څخه د غلاتفات غواړم او به
دغه نشر به سره (کابل مجله)
به د پیر اجزام .

له چینی ادب څخه

مترجم : م صدیق (روهی)

دچین نننی ادب ماؤتون

- ۱ -

کوم ادب چه دا اوس په نوی
چین کښی په ډېر قوت سره
مخ په وړاندې روان دی
دا دهماغه «نوی ادب» ادامه ده
کوم چه دمې دڅلورمی ۱۹۱۹
په نهضت کښی منځ ته راغلی و
له لومړی جهانی جنګ او
اکتوبر انقلاب(۱) څخه وروسته
د چین دولس مبارزه مخ
په وړاندې یوی نوی مرحلی ته
ورسیده : دخلکو دلو یوټولنو
انقلابی حرکت دا ستعمار
او فیودالزم (۲) په مقابل کښی
ډېر ژوندی او قوی شو . ډېر
زیات روشنفکره کسان دیوه
نوی کلتوری نهضت دوړاندی
بیولو دپاره را وبلل شول چه
دمې دڅلورمی په کلتوری نهضت
سره شهرت لری . دلومړی
جهانی جنګ او دا کتوبر دانقلاب
په وسیله بیدار شو یو کسانو
په زیاته اندازه کوشش وکړ
چه دمو کراسی او سوشلزم(۳)

پر مخ بوزی او په خلکو کښی
انقلابی احساسات تولید کړی
دهغه وخت لیکونکی یو ادبی
انقلاب ته تیار شول او دا خبره ئی
تثبیت کړه چه دوی باید
دټولنی او سنی حال په خپلو
لیکنو کښی وښئی دوی دچین
دا جتماعی او سیاسی رژیم
اشتباهات او دولسونو دلوږی
او کمزور تیاریښی پخپلو لیکنو
کښی څرګندې کړی او دې
واقعیت ته ئی اشاره وکړه چه
دفیودالیزم مفکوره او دولس
پر تهذیب او ثقافت باندی
دا ستعمار غوښتونکو حمله
دیوی آلی په ډول دخلکو
دعولولو او ستر ګو تړلو
دپاره خدمت کوی . په همدې
ترتیب دوی په خلکو کښی
دډمو کراسی افکار خپاره
کړل او په ولس کښی ئی
دهیواد غوښتنی ایثار او
داجتماعی اصلاحاتو په لار کښی

دقربانۍ ورکولو احساسات
را وخوځول او خلک ئی په دی
خبری ښه وتوهول چه دوی هم
دنورو په شان دځانته شخصیت
او ارادی خاوندان دی . دې
لیکونکو داخبره کلکه کړه
چه دچین «ادبی ژبه» یوا ځی
دڅو محدود و کسانو ژبه ده
او هر څوک ددې ژبی دلیک او
لوست قدرت نشی پیدا کولی
نو له همدی امله نه ښائی چه
د نو یو فکر و نو دخیر و لو
او پر مخ بیولو دپاره کار تری
واخیستل شی دهمدې ضرورت
داحساس له مخی باید یوه بومی
لهجه چه دعوامو لهجی ته ډېره
نژدی وی دخلکو دبیداری
دپاره وټاکل شی . کوم
«نوی ادبیات» چه دهغه وخت
په بومی لهجه خپاره شول
دنوی کلتوریوه سمه او مناسبه
برخه ګڼل کیږی .

لوهسون (چه دده دمرینې
د قلم تلین مراسم په همدی
اکتوبر کښې برخای شول)
لومړی لیکونکی و ، چه دچین
دنوی ادب ناداوئی کیښود ده
د ۱۹۱۸ څخه را په دیخوا
پوشمیر لنډی قصې په مسلسل
دول سره ښکاره کړی چه لومړی
قصه ئی دا یوه لیکنی سړی
یادداشت) په نامه یادیږی
داقصه دلومړی ځل دپاره دچینی
ادب په تاریخ کښې ، دفیودالی
سیستم سره یخور فطرت تعریفوی
او ددوی له اعمالو څخه
په ماهرانه دول پرده لری کوی
دلوهسون بله مشهوره قصه
د(آ. ك ، ریښتینی قصه) ده
چه په هغه کښې دچین دزړی
جامعې بزګر کوم چه داستثمار
اوجفا په وسیله قربان شوی دی
راښیی او دهغه وخت داختلاف
او تقاضت ریښی په صحیح دول
سره بیانوی او همدارنګه
د ۱۹۱۱ انقلاب ترانتقادلاندې
نیسی کوم وخت چه داقصه
داخبا رونو برمخ ښکاره شوه
دیر زیات شهرت ئی بیا موندلی
حتی ترننه ورځی پوری
لوستونکی ته یو نوی روح
وربښی او په فکر کولو ئی
راولي د(آ. ك ، ریښتینی قصه)
دچین دکلاسیک ادب څخه راښه
نمونه ګڼل کیږی
دنوی ادبی حرکت سرمشم
ځینی نوی ادبی تولنی منځ ته
راغلی چه دهغو له جملی څخه
ادبی تولنه او خلاقه تولنه
په تولو کښې دوام لرونکی
او مؤثری تولنی دی زموږ
اکثر ویځوانو مؤلفینو چه
په دې وروستنیو څلو پښتو کالو
کښې هر څه لیکلی دی هغو
تولو په مستقیم یا غیر مستقیم
دول سره ددی دوو تولنو او یا
ادبی ژورنال سره اړه درلوده
دادبي تولنی زیاتره غړی
هماغه کسان وو چه دارویائی
ادبیاتو دریالیزم او واقعیت
خوښولو روح یکښې پوکړی شوی و
دوی نه بلنه ورکړی شوه چه
دجامعې دفساد عوامل جلکوته
په ګوته کړی او هغوی ته بشر
دوستی او دموکراسۍ به مفهوم
باندی پوره موبوهوی ددی لیکونکو
له دلی څخه یوماؤ تون او بل
پیه شنګ تاو نومیږی ترتولو لوی
فاضل او دخلاقه تولنی مشهور
لیکونکی (کوموجو) ؤ ده. آلهه
دنو یواڅما رو یوه مجموعه وه
چه دمې دخلرمی په نهضت کښې ئی
زیات شهرت وموند په زړو
اصولو او اعتقادا تو کښې
درخنی پیدا کولو دپاره ده
په یومی لهجه کښې منثور شعر
باب کړ برسیره پردی ، دده
اشعار له دموکراتیک افکارو څخه
دلکوو دفساد او خرافاتو سره مخالفت
درمانتیک عواطفو ښکاره کول
اودیوه آزاد او پرزور سبک
پیروی - دې تولو دنوی شعر
دتعمیم لپاره لارهواره کړه
همدارنګه (کوموجو) یو درامه
لیکونکی دی چه دیرې عالی
اوتاریخي لوبې ئې لیکلې
دی چه دهغو له جملې څخه
(چوبوان) دیر شهرت لری.
دمې دخلرمی په نهضت کښې
دنوی ادب لیکونکو په کډه
تصمیم ونیو چه دهنر دژوندلپاره
په کار واچوی . دوی دخپلو
لیکنو په تراخ کښې هر یو هڅه

وکړه چه له فیو ډالی دور نما
سره مبارزه وکړی او د خلکو
په دماغو کښی دموکراتیک
افکار تزریق کړي. دوی له
اجتماعی او سیاسی اصلاحاتو
نه پوره حمایه وکړه. دا چه
دچین هیواد به څنګه اصلاح
شی او کومه لار باید ونیسي
که څه هم چه دلیکوالو ډلی په
دی برخه کښی کرم مشترک
فهم ومشخص تکی نه درلود
تثبیت شوی. خو سره ددی هم
دراتلونکی وخت دپاره ددوي
کار له امیده ډک ؤ او ددوي
له لیکنو څخه دهیواد غوښتنی
او فکرونه څرګندیدل. ددوی
همدا ممیزه صفت ؤ چه دځواني
طبقی تیزه وینه ئی په غور ځنګ
راوسته او په نیره دچین دزده
کوونکو لپاره ئی دچین
داجتماعي مسئلو او دخلکو
دسرنوشت دټاکلو لار روښانه
کړه. دمی دڅلورمی له نهضت
څخه ډیره موده نه وه تیره شوی
چه دچین کمونست ګوند منځ
ته راغی او داسعتمار او
فیودالیزم دمقابلی دپاره ئی په یوه
مشخص انقلابي دموکراتیک
پروګرام لاس پوری کړ. ددی
ګوند تشکیل دنوي ادب
پر لیکونکو هم زیاته اغیزه
وکړه یو زیات شمیر لیکونکو
په داسي حال کښی چه د تولني
پر ناوړه کارونو او فسادونو
ئی سختي حملي کولی. د
سوشلزم مفکوره ئی په ښه ډول
استقبال کړه. داوه پس دمی دڅلرمی
څخه په دوهمه مرحله کښی دنوی
ادب دانکشاف او پرمختګ علتونه
دمی دڅلرمی نهضت یواځی
دیوی سختی او ژوندی مقابلی
په اساس منځ ته راغی که څه هم
چه مخالفینو ددی حرکت په
مقابل کښی په سختی حملی
کوتی پوری کړی او غوښتل
ئی چه دا نهضت په نطفه کښی
ښنډ کړی پداسی حال کښی
چه دوی فیودالی طبقه کمپرادر
(٤) بورژوازی (٥) او حاکمان
خلکو ته په اصلی بڼه معرفی کول
خو بیا هم مخالفینو د نوي
ادب له مرام (دموکراسی او
سوشلزم) سره په کلکه مخالفت
او ضدیت واخیست.

کله چه لیکونکو د «ادبی ژبی»
پر ځای بومی لهجه خوښه کړه
دمخالفینو له خوا پری ډول ډول
تورونه او تهدیدونه راغلل خو
دراتلونکی جریان مخي نیول
یو ناممکن کار ؤ. دی لیکونکو
دارویا دنوسمی پیړۍ دادبی
حرکت تقلید کاوه دلیکلونوی
طریقی ئی باب کړی او دممتازی
طبقی دممیزه ادب تخریب ته ئی
په ډیره بی پرائۍ سره ملاوتړله
په رستیا چه دوی دوخت دغوښتنو
سره سم تکامل راوست او دچین
دوروستیو دری زروکالو عنعنوی
ادب چه مخالفینو دبشر دوستۍ
او واقعیت پرستۍ داحساس
دلرلو په سبب له منځه وړی و
بیرته راژوندی کړ. ددی کار
علت (لوهسون) په ډیر فصاحت
سره بیان کړي دی. دی نوی
ادب دملی کلتور او عنعناتو
خورا ښي برخی انتخاب کړی
او دخلکو دلویو اکثریتونو
ارادی او آرزوګانی ئی

(١) کمپرادر هغه لورژوازی
ته ویل کیږی چه دخارجی انحصاراتو
په مرسته دولس د (تولو خلکو) دګټو
پرضد فعالیت کوی. (مترجم)

داستعمار اوفیودالیزم په مقابل
کښې ښکاره کړی. که څه هم
چه دوی د درندو بی عدالتیو پر
ضد له ابتداء څخه په مبارزه پیل
کړی ؤ، خود څلورو یا پنځو
کالو په موده کښې د هغو
لهائی بری په برخه شو.

دمی دڅلرمی له نهضت څخه
وروسته د (۱۹۲۴-۲۷) انقلاب
راغی په دی وخت کښې نوی
ادب درو شنفکره دلی دمجهز
کولو په لار کښې ډیر کمک وکړ
او دوی ته ئی لارښوونه وکړ.
چه داستعما اوفیودالیزم پرضد
انقلاب کښې پوره برخه واخلی
مگر دا انقلاب د (کوامنتانگ)
(۷) دمرتجعینو دخیانت په سبب
ناکام پاتې شو. پس له ۱۹۲۷
څخه چین د (چیانگ کای شیک)
(۸) ترفاشیستی (۹) اداری لاندی
راغی خو دچین د کمونست گوند
نراسه هم خلکو ته د انقلاب
لارښوونه کوله. د دی وخت په
ادبی دائرو کښې نوی تغییرات
پیښ شول. دانقلاب له پیر ته
غورځیدلو څخه وروسته کومو
مترقی لیکونکو چه د (هنر لپاره
دژوند) پرنسیپ منلی و. دمی
دڅلرمی پوری دهمدی مرام په
رڼا کښې خپرونی کولی.
کومو لیکونکو چه له دی وروسته
دسوسو شلزم آرزو لرله په دی
تسکی ښه وپوهیدل چه دوی باید
یوه مفکوروی مبارزه جاری وساتی
او زیات کوښښ وکړی چه
دادبیاتو په ترڅ کښې دخلکو
ذهنیتو نه دعلتونو دادراک
خواته متوجه کړی او په همدی
ډول دچین له انقلاب سره مرسته
وکړی. په ۱۹۳۰ کښې د چین
چپ (۱۰) لاسی لیکونکی د
(لوهسون) په مشری متشکل
شول دوی د کارگرانو او
بزگرانو دپاره د لیکنو پرنسیپ
په مخ کښې کیښود او ټول مترقی
لیکونکی ئی داستعمار غوښتونکو
او فاشیستی اداره کوونکو په
مقابل کښې دانحاد دپاره و بلل
په دی وخت کښې لوهسون ډیری
مقالی ولیکلی همدا په ډیر لوړ
ادبی معیار سره لنډی سیاسی
مقالی وی چه په هغو کښې ئی
دجامعی پرتولو ارتجاعی او
محافظه کارو عناصرو باندی
سختی او تیزی حملی کړی وی.
لوهسون دمی دڅلرمی د نهضت په
لومړی سر کښې دداسی مقالو
په خپرولو شروع وکړه، لکن
ددی مقالو خورا ښه او غوره
برخه پس له ۱۹۳۱ څخه ولیکل
شوه. دا مقالی دچین دلیکنو یو
کلاسیک (۱۱) شکل ؤ خو
لوهسون هغی ته ترقی ورکړه
او دچین دڅه لیکلو یو نوی
ادبی نمونه ئی تری جوړه
کړه.

لنډه ئی دا چه دچین دچپ
لاس لیکونکو له شکل څخه
وروسته جاپانی استعمار چیانو
دچین شمال مشرق ونیو. مگر
په دا وخت کښې چه جاپان
قدم په قدم دچین په مقابل کښې
خپله حمله زیاته کړه او
دچیانگ کای شیک ارتجاعی
حکومت هم په تسلیم کیدرته
شروع وکړه، دچین دولس په
مختلفو برخو کښې دیوه وسله وال
مقاومت عملیات جاری شول.
دچین د کمونست گوند یوه
اعلامیه خپره کړه او په هغه کښې
خلک دجاپان پرضد ملی اتحاد ته

تشو بقول او د مملکت تول وګړی
او د مختلفو مفکورو او مسلکونو
پیروان ئی تول د جاپانی استعمار
پر ضد مبارزې ته یو ځای کول
په ۱۹۳۶ کښی د جاپان له
پرغل څخه یو کال پخوا د چین
د چپ لاس د ګوند لیکونکو چا
چه د کمونیست ګوند په لار
ښوونه د چین د لیکونکو د اتحاد
د تشکیل لپاره سره د ټولو هغو
کسانو چه بی د سیاسی عقایدو یا
ادبی مکتبونو له ملاحظی څخه
د جاپانی استعمار سره مخالفت
کاوه په لویه پیمانه پیل کړی ؤ
خپل ځانونه ئی غیر متشکل اعلام
کړل او د چین له ټولو لیکونکو
څخه ئی غوښتنه وکړه چه
د جاپان پر ضد د ملی اتحاد له
جبهی سره هوا فقه وکړی
په بل کسال کښی د چین
د ضد جاپانی اتحاد لیکونکی
او هنرمندان په (هانکو) کښی
سره راټول شول او د ټولو مختلفو
ګوندونو او طبقو د لیکونکو
نومونه ئی ولیکل ښی لاس هم
د چپ لاس په شان د ضد جاپانی
مبارزی څخه پوره حمایه وکړه
دا غږ یدی ډول خپور شو:

په ستاسو لیکنی باید د بزګرانو
او لښکریانو د پاره وی، پـه
نتیجه کښی یو شمیر عامیانه
لیکنی کومو چه د خلکو له لویو
ولسونو سره مناسبت درلود منځ
ته راغی په دی لیکنو کښی
د هیواد غوښتنی د احساس پالنه
او د پردیو د تجاوز په مقابل
کښی د مقاومت بلنه په ښه
ډول سره شوی وه په همدا وخت
کښی دا پرنسیپ د ټولو له خوا
ومنل شو چه څه لیکل باید
د خلکو د انقلاب د پاره ګامونه
واخلی. پس له ۱۹۳۷ څخه
هغه لیکونکی چه د کمونیست
ګوند په لار ښوونه په دموکراتیک
او ضد جاپانی اساساتو
کلک ولاړ ؤ د کارګرانو منځ
ته ښه ورننوتل پداسی حال
کښی کوم لیکونکی چه د
ګوامنتیانګ تراداری لاندی پراخه
ساحه کښی او سیدل د کارګرانو
او بزګرانو د پاره لیکنی
وکړی د اعلامیی ترخپریدو
وروسته ډیر کم خپل مقصد ته
ورسیدل او ډیره لږه آزادی
ئی درلوده چه د مملکت له مختلفو
ناحیو او لښکر سره تماس پیدا کړی

تر څو چه د خپل حرکت آزادی
ئی یو مخی له لاسه ورکړه څه
موده وروسته د ګوامینتانګ
ارتجاعی حکومت په ډیر فصاحت
سره د جاپانی رعلګرو په مقابل
کښی خپل مقاومت کم کړ
او بالعکس د ننه هیواد کښی ئی
د دموکراتیک افکارو مخه ونیوله
په دی ترتیب مترقی او هیواد
غوښتونکی ادب او هنر له یوی
بی رحمانه حملی سره مخامخ
شو لیکن د دی پر ځای چه
دموکراتیک او هیواد غوښتونکی
ادب له منځه لاړ شی. تکامل ئی
وکړ د همداسی زجر او فشار په
مقابل کښی لکه چه (کوموچو)
د (چو یوان) په لویه کښی په
صراحت سره ښودلی دی د
(چو یوان) په قصه کښی یو لرغونی
شاعر د وطندوستی په جرم اعدم
شوی و، مصنف په هغه ارتجاعی
عناصرو کوموچه جاپانی استعمار
ته د تعظیم سرو ته ټیټول او د خلکو
سره ئی ظالمانه رفتار کاوه حمله
وکړه دا د خلکو په لویو ولسونو
کښی د هیواد غوښتنی احساسات
پیدا ر کړل چه د خپلی ملی
آزادی او خپلواکی د پاره په

سرسختۍ سره جګړه وکړي.

تقریباً له شلو کالو نه په زیاته موده کښې دمې دځلرمې دنهضت او دچاپان پرضد جنګ کښې. دچین نوی ادبیاتو پوره ترقي وکړه خو په هغه وخت کښې دواړو ته دنظر ئې او تمرین په ستر ګه کتل کېدل. پخواله هغه دزیاتو پوښتنو تشریح او تعبیر ته ضرورت موجود و، په یوه داسې ترتیب سره کوم چه دچین دانقلاب او عملي سیاست سره مناسب و، دمثال په ډول اکثرو لیکونکو آرزو درلوده چه خلکو ته خدمت وکړي لکن «خلك» څوك و؟ څنګه باید نوی ادب خلکو ته خدمت وکړي؟ څنګه نو لیکونکو کولی شول چه یو داسې حالت منځ ته راولي چه په هغه کښې ددوی هیلې ددوی له تمریناتو سره موافقت وکړي دا او ددې په شان ځینې نورې داسې پوښتنې وې چه هر چا ته دهغه ځواب نه ؤ ښکاره اما دغه اساسي مسئلې په صراحت سره دادب او هنر په ټولنه کښې حل شوې وې کومه چه په ۱۹۲٤ کښې په (لیان) کښې راغونډه شوې وه، په دې ټولنه کښې رئیس ماؤ تسی تونګ یو نطق ایراد کړ چه مناقشې ته خاتمه ورکړې دا نطق د «ینان» دادب او هنر په ټولنه کښې دخبرو اترو، په نامه شهرت لري، په دې ټولنه کښې زیات اساسي مسائل چه تر اوسه پورې په قناعت بښونکي ډول نه ؤ حل شوي فیصله شول همدارنګه دراتلونکي ادب دودې او برمخ تګ لپاره کافي توضیحات ورکول شول

نوټ: په دې ترجمې کښې یو شمېر علمي اصطلاحات راغلي دي نو ځکه دمجلې اداره دمضمون دښه پوهېدلو په منظور دالازمه ګڼي چه تعریفات ئې دلته ولیکي دفکر او مطالعې خاوندان په دې ښه پوهېږي چه دمختلفو فکري او فلسفي ښوونځیو له نظره علمي اصطلاحات په خپل مینځ کښې توپیرلري او زیاتره سره نقیضي وي لدې کبله مونږ په دې ځای کښې داستعمال شو و اصطلاحاتو تعریف دمقالې د لیکونکي له نظره کوو:

۱- اکتوبر انقلاب: دروسیې د ۱۹۱۷ کال دنوامبر دمیاشتې هغه سوشلستي انقلاب دی چه په نوی کالنۍ کښې دا کتوبر په انقلاب مشهور شو.

۲- فیوډالزم: په تاریخي دورو (لمړی کمیون، دغلامۍ دوره، فیوډالزم؛ کاپیټلزم او کمونزم) کښې دا هغه دریمه د نیمه غلامۍ دوره ده چه زمونږ په اصطلاح ملوك الطوایفي او خان خاني ورته وایه شي.

۳- سوشلزم: له سوشلزم څخه مراد دادی چه هلته دثروت دتولید ټولې وسیلې (ځمکه، فابریکه، او په برښنا .....) دولس دبهبود او هوسائي په منظور د دولت یا دټول ولس په لاس وي او دا پرنسیپ یکښې جاري وي (هر چا ته دکار په اندازه او هر یوه ته داستعداد په مطابق)

٤- دموکراتیك: ددموکراسي صفت دی یعنې دموکراسي.

٥- کمپرادر: هغه بورژوازي چه دخارجي انحصاراتو په مرسته دولس دګټو پرضد فعالیت کوي.

٦- بورژوازي: هغه سیستم یا نظام دی چه هلته دثروت دتولید

(یاته په ۲۳ مخ کښې)

دمجلی گرانو لوستونکو ته به معلومه وی چه څو موده پخوا د اتحاد شوروی یو کولتوری هیئت زمونږ گران هیواد ته راغلی و. دا هیئت د پښتو څېړنې د پاره دوه هفتې تېری کړې؛ پښتانه لیکوال ئی ولیدل خبرې او مرکې ئې ورسره په مجلسونو کښی وکړی او د پښتو په برخه کښی ئې تحقیقات او څېړنې هم زیاتی کړی. د ډېر ته تګ په وخت کښی ئې لاندې مضمون چه د هیئت یوه غړی.

ښاغلی دوور یانکوف د اتحاد شوروی د خاتیز پېژندنې موسسی معین لیکلی و. مونږ ته د نشر د پاره راکړ چه دا دی بېله کوم تصرف نه ئی په لاندې ډول خپور شو. (اداره)

د کابل مجلی ته لیک

د شوروی علمی هیئت له خوا گرانو ملگرو

دافغانستان او شوروی اتحاد ترمنځ د دوستانه روابطو تاریخ له هغو پېښو سره ډک دی چه زمونږ د دواړو گاونډیو هیوادو دالرسونو عنعنوی دوستی پکښی پوره اجراآت مومی. له هغو پېښو څخه یوه مهمه پېښه د ۱۹۳۱ د جون په ۲۴ وشوه کوم وخت چه دافغانستان او د شوروی اتحاد حکومتونه یو د بل سره د بی طرفی او ناحمله کولو قرار دادو تاړه. په دې تړون کښی دافغانستان او د شوروی اتحاد د خلکو کلکه اراده څرګنده شوه چه د ښه گاونډتوب او دائمی سولی په فضا کښی اوسی. دا تاریخی سند چه تر اوسه پوری سلاحیت لری د سولی او دوستی حقیقی سند دی شوروی افغانی روابط د سولی، دوستی احترام او همکاری د ښه مثال گرځېدلی دی.

زمونږ هیئت د دوست افغانستان پایتخت ته د کابل ښار ته سبز کال د جون په ۲۴ را رسېدلی یو یعنی په دې روځ چه د دې تاریخی تړون پر له پسی تلین و او مونږ دا نیک مرغه نښه وګڼله چه په خپل سفر کښی چه مقصد ئی د ننني افغانستان د کلتوری علمی کامیابیو سره پېژندل و مونږ به هم ښه کامیاب شو او همدغه رنګه د افغانستان د پوهانو سره خپل تماس ټینګ کړو. زمونږ دغه امید ښه درست شو ځکه چه په کابل کښی زمونږ لنډه اوستو ګټه له ډېر ولیدنو کتنو او خبرو اترو سره ډکه وه چه هیڅ کله نه هېرېږی او مونږ ته ئی ښه امکان راکړ چه د دې هیواد د ترقی په خصوصیاتو تر پخوا ښه وپوهېږو.

شوروی خلک تل په هغو کامیابیو ډېر خوشحالېږی چه دوست افغانستان ئی د خپل اقتصاد او کلتور په وړاندی تک کښی لاس ته راوستلی دی. هغه لوئی کامیابی چه افغانستان د خپل مستقل کښی ژوند په کالو کښی لری په شوروی اتحاد کښی هر چېر ته مشهور دی. تر دوهمی عمومی جګړې وروسته

کوم وخت چه د دنیا کښې نوی
بین المللی حالات پیدا شول
دافغانستان دملی ترقی سرعت
دېر زیاد شو افغانستان دزمانو
سره سم وړاندی لحی اود شرق
دهغو هیواد ولمایندگی کوی
چه عمومی سوله اود خپلواکی
ترقی دپاره دالوسوانو حقوق
ستائی اوساتی ئی. دافغانستان
سوله غوښتونکی خارجی سیاست
نه یوازی دافغانستان دخلکو
علاقوته فائیده رسوی بلکه په
توله دنیا کښې دافغانستان
دپاره لوړ بین المللی . او
دتولو سوله غوښتونکو هیوادو
مینه او احترام گټلی دی.
دافغانستان دغه ډول سیاست
تاریخی بیخ او اساس لری .
دې خلکو په پیړیو پیړیو دخپلی
آزادی دپاره د استعمارچیانو
برخلاف مبارزه کوله اودامبارزه
دنورو ملتودافتخارورشو. کوم
وخت چه مونږ د کابل په ښار کښې
دمیوند دفتحې په افتخار دیادگر
په شاوخوا کښې داوسېدونکو
سره خبری وکړی او ولیدل
چه داملت په هغه فخر کوی.

په افغانستان کښې نه یوازی
اقتصاد بلکه ملی کلتور هم
مترقی کېږی. دمعارف او
پوهنی سیستم برله پسی پراخېږی
چه عالی تحصیل مهمه برخه ده
دکابل دراډیو آواز په تره له
دنیا کښې اوریدل کېږی او په
مرکز کښې ئی دافغانستان ستر
لیکوال او ارتیستان را غونډ
شوی چه مشرئی ښاغلی عبدالروف
بینوادی . دافغانستان دملی
کلتور دترقی دپاره تیا ترهم
دېر اهمیت لری اوهغه کارچه
لحوان او بااستعداده اکتران
دښاغلی محمد علی روښق په
پوهنی تندارکښې عملی کوی
دستایلووردی. دافغانستان تولی
کامیابی ددی هیواد پوهان
لیکوالان او شاعران الهام بخښوی
چه نوی علمی او ادبی آثار ترتیب
اوچاپ کړی چه دوطن بالوی
روح او په سوله کښې دخپل
هیواد دترقی ارزو دهغو
دآثارو مهم خاصیت دی. داخبره
هم دېر اهمیت لری چه دافغانستان
دتاریخ پوهان کوشش کوی
چه تاریخی بینی او حالات

خیلی نقطه نظر لحخه ځر کند
کړی لحکه چه خارجی عالمو
ددی هیواد دتاریخ لحینی بینی
د استثمارچیانو له نقطه نظر
لحخه ځر کندوی اوغلط یکښی
راځی. له دې سببه ښاغلی سید
قاسم رښتیا ښاغلی خلیل الله خلیلی
ښاغلی احمدعلی کهزاد. ښاغلی
محمد علی ښاغلی عزیز الدین
پوپلزی اودلورومشهور تاریخی
آثار ددېردقت اوتوجه وړدی.
تردوهم عمومی جنگ وروسته
دافغانستان مطبوعات
دښتونستان مسئلی ته دېره توجه و
کړزوله ښتانه لیکوال داستثماری
دسختو عاقبتو دلیری کولو
په حقله او خلکو ته د باشرفه
حقوقودور کولودپاره خیل زغ
پورته کړچه دښتونستان پروبلم
باید په حقیقی او صمیمی ډول
حل شی. مونږ هم هغه کاروته
مهم ګڼو چه ښتونوله او د کابل
پوهنتون عملی کوی . دخپلی
ملی ژبی دپاره یعنی دښتوژبی
اوښتوادبیاتودترقی او تکمیل
دپاره خدمت زمونږ په نظر کښې
یوه مهمه اجتماعی اوژوندانه

وظیفه ده. نو ځکه مونږ د ښاغلی الفت کوششونه او دهغه د داسی ملګرو لکه ښاغلی ریښین، ښاغلی رشاد، ښاغلی خادم، ښاغلی تېزی، کاکړ او د نورو محترمو اشخاصو او غړیو زیار او زحمت زمونږ په نظر کښی دلوړو ستاینو او لویو صفتونو وړ دی. او مونږ دهغو لوئی کامیابی غواړو. په دې کښی شك نشته چه د ملی کلتور او ثقافت کامیابانه ترقی د ټول هیواد د پرمخ تك یو مهم شرط او اصل دی. په اوسنی وخت کښی افغانستان د خپل اقتصاد او کلتور د ترقی د پنځه کلن پلان په عملی کولو لګیا دی. دا پلان ډېر لوی او پراخ معلومېږی. دهغه په عملی کولو سره دا هیواد یو لوی اقدام وړاندی وکړی. شوروی خلك له دې سببه خوشحال لېږی چه د دې پلان په اجرا کولو کښی د افغانستان سره مرسته کوی چه بی له کومو شرطو او فویودو کېږی. شوروی وکړی هم له دې سببه خوشحالېږی چه زمونږ د دواړو هیوادو ترمنځ کلتوری، علمی او ثقافتی روابط کال په کال پراخیږی او ټینګېږی.

سره له هغه چه په افغانستان کښی زمونږ اوستو کنه ډېره لنډه وه خو بیا به هم مونږ ډېر قیمتي خاطرات له ځانه سره یوسو. دلته مونږ داسی ډېره مېلمه پالنه او ښادی ولیدله چه زمونږ په یاد به د تل د پاره پاته شی او مونږ دا خپل باشرفه وظیفه ګڼو کوم وخت چه بېرته مسکوته راشو نو خپلو خلکو ته دافغانستان دلویو کامیابیو په باب او همدغه رنګه د دې هیواد د خلکو د مېلمه پالنی او د زړونو د ښو خاصیتونو په باره کښم ډېر صفت وکړو.

تل ارتینګ دی وی زمونږ د دواړو خلکو ترمینځ کلکه دوستی

(د ۲۰ مخ پاتی)

ټولې وسیلی د انفرادی اشخاصو په لاس وی بورژوازی ته په لږ څه تعدیل کاپیټلزم یا سرمایه داری هم وېلی شو. په دې حساب پورته یا لوړ بورژوازی یعنی سرمایه داری او بورژوا یعنی سرمایه دار.

۷- کولومتانګ: چینی لفظ دی او هغه ملی حزب ترې مراد دی چه جنرال چیانك کای شیك ئی مشر دی دا ګوند له لوی چین څخه ایستل شوی او اوس یوازی په تایوان یا د غربیانو په اصطلاح په فارموسا باندی د تورو په زور حکومت لری.

۸- فاشزم: زیاتره متفکرین فاشزم ته کوم فلسفی نهضته نه وائی دا ځکه چه لمړی یو شمیر کسانو د زور له لاری قدرت وګاته او وروسته تې بیا د خلو کرو د توجیهه د پاره فلسفی اساس ورته جوړ کړلدی کبله ده چه د فالشزم تعریف په یو څو کلمو کښی ګران معلومیږی خو بیا هم وېل کېږی چه فاشزم د حکومت هغه رویه ده چه فردی استبداد او ډله ایزه د کتاتوری او انقلابی اساس باندی ولاړ وی او افراطی حالت ولری. همدا وجه ده چه فاشزم د ډمو کراسی او سوشلزم ضد او مخالف ګڼل شوی دی.

۹- چپ لاس: دا اصطلاح په مقابل کښی ښی لاس هم لری له چپ لاس یا چپ وزر څخه مراد د یوه ګوند یا د یوه تشکل او موسسی هغه افراطی برخه یا ډله ده چه په تغییر او تحول او انقلاب او شدت باندی ایمان لری او افراطی یا اورېډیکل غوندی وی.

۱۰- کلاسیك: په عمومي مغنی لرغونی اثارو ته راجع کېږی خو په خصوصی ډول د یونان او روم ټولو اثارو باندی دلالت کوی (اداره)

خیرغل رشاد قندهاري

جدید

(جدید) دخدایداد نومې، اکازې توخې تخلص دی چه دسد وز یود یا چهـی به وروستیو کلو (ددیر لسمی هجری پیړۍ په اواسطو) کښې ئې ژوند کاوه دې وایی!

نوم زما (خدایداد)ؤ. چه له موره پلاره یا دؤ

مینې دیار زما کړ، نوم (جدید) لذیذ هر گوره

(ددیوان ٤١ مخ)

که له اصله څوك زما کوی پوښتنه.

ز. (جدید) په اصل توخـی اکازی

(ددیوان ١١٩ مخ)

که باور نه کړی اې وروره، شاه محمود وفیروز گوره

دیوه هرات له یاره ورك ئې کړ. اولاد اکثر

شاه محمود پاچا معدوم دی، باته شوی ئې یو نوم دی،

هرچه کاندی کامران کاندی محمود هیڅ نه دی خبر

شاه محـمود پاچا له حاله، درته وایم زمـا لا له

په هستې کښې ئې نیستې ده، حال ئې دادی مختصر

(ددیوان ٣٩ مخ)

دجدید زیات وخت په هرات گولار(؟) او ترکستان کښې تېر شوې دې دی تل له پر دیسی څخه شکایت کوی او د کورو کلـی په بېلتانه کښې نولېږی:

بند سوم الهی زه زاری کوی یمه وتاته

کورو کلي واره اوس له ماغریبه پاته

هرچه پاته شوی ماسپارلی دی وتا ته

ته ئې نگهبان شې اوس ددرست مخلوق غمخواره

خلاص می کړی په فضل اوس له دې خرابا (گولاره)

(ددیوان ٣١ مخ)

که هزار په زړه نولېږی چه بندې شی نه خلاصېږی هرچه خدای کا هغه کیږی
ظاهر هسې معلومېږي، خاوری ستاله نرکستانه جدید خواره حیرانه
(د دیوان ۸۷ مخ)

وخت دنو بهار شو دور بیا راغې د گلو
خاندی هو سېږی بلبلان کا چیغا رونه
سیل کړی دخوبانو روغه خلقه نن نوروزدی
زړه وړې له کو گله خوبان کاندی ناتارونه
نه کاندی څوک د ارنگه نوروز په بل ولات کښی
لکه د هرات خلق ئې کړی په اسبابونه
درست جهان که ماته شي گلزار زه خوار ئی څه کړم
نه وینم په ستر که دخپل یار شینکې خالونه
(د دیوان ۸۸ مخ)

ر به چېری به وی زما خوار فرزندان در بدره سرگردانه خوار حیران
زما په ناز ساتلی څه شوه خبر نه یم څه بې حال څه بې احوال وی څه بې توان
اورمی بل سې پر زړه باندی چه رایا دشی به هردم، په هر ساعت، په هر زمان
خلق ئې بولې یتیمان چه پلار ئی مړشی زما زوی، لونې په ژوند شوه یتیمان
اوس دچا پر دربه گرزی نه پوهېږم ېبلی پښې په سرتور سر په تن عریان
ناز بر داره پلار په ژوند ورځنی مړشو اوس پر چا باندی به ناز کوې خواران
چه بی ناری کړه و ماته بابا جانه! ما په ژر جواب ورېیا کړ چه قربان
چه به درد، ددوی په ځان شو نور به ماول: دغه ستاسی درد، دی شی د پلار په ځان
اوس به څوک وې چه به دوی ور باندی ناز کا څوک به وې چه به ئی کښل کا په چشمان
اوس به ناری کړی و چاته باباجانه څوک به وی چه ورته ووا یې قربان
اوس به څوک وې چه ددوې درد به په ځان کا څوک به وی چه به ددوی و کا درمان

بیله تا مشکل کشا په جهان نشته
دا مشکل کړی پر (جدید) رنه آسان

د(جدید) دزو کړي او مړ ینې د نیټې په باب کښې کوم یقینی سند نشته خوله دې څخه چه ده د شاه محمود او کامران سدوزی په شخړو کښې (پخوا تر ۱۲٤۷ ق) هرات ته سفر کړیدی او هلته د اولاد په بېلتانه کښې کوکی وهي تخمینیږی چه د ده زو کړه به د تیمور شاه سدوزي (۱۱۸٦ - ۱۲۰۷ ق) په پاچهی کښې وی عمرئي تر شپېتو کالو زیات شویدی دی وایی:

تیر شو شپېته کاله عمر، زماله بخته توره
نشوم یووار وصل په وصال دد لبر گوره

د جدید د تاتوبی او وطن په باب به د دیوان کښې کوم صریح ذکر نشته، خوله دی څخه چه څو لحایه ئی د قندهار په بېلتانه کښې د ارمان چینه له خولې وتلې دی څر کندیږي چه د قندهار به وي دی وایي:

نه به وي نه به پیداشی قندهار غو ندې و لات
اوس ارمان می دی یارانو هیر بې نکړم په حیات
(د دیوان ۲۰ مخ)

اوس ارمان مې قند هار دی قندهار نه دې گلزار دی

دیوان ئې

جدید یو مردف قلمي دیوان لری چه پخپله ئې په هرات کښې تدوین کړی دې د دیوان د لومړی مخ پر حاشیه د شاه (خدا بداد) مور هم شته د دا دیوان (۱۲۹) مخه دی صرف د رباعیاتو برخه ئې څه ناقصه ده. مستزاد. مخمس. غزل. رباعی او چهار بیتی یکښې شته هجوي مدحی مرثیې او عشقي غزلی لری په پارسو کښې ئې هم طبعه آزمایی کړې ده په کلام کښې ئې سلاست او روانې شته د رحمان بابا سبك پالې او لحن د هغه پیرو گڼی لکه چه وایی!

دی رحمن شاعر یا رانو سر حلقه د شا عرا نو
که خدای ما کاندې حسابه د رحمان له مریدا نو

ادبی صنایع:

د(جدید) په اشعارو کښې ادبی صنعتونه زیات شته چه یو څو ئی دلته نمدونې په توگه راوړو.

طباق : ما به بل پورې خندا کړه نا خبروم اوس له حاله ئې خبر شوم چه خبر شوم

اشتقاق : زه جدید دې امید وار د شفاعت یم خدای دی نه کا نا امید ا امید زما

ردالعجز علی الصدر:

ستا هجران کړم یبلی پښې په سر تور سر — کور په کور. کلي په کلي، در په در
در په در گرزم حیرانه نه پوهیږم — لکه څوك چه لېونی شی هم ابتر
لېونی وابتر خوښ یم گوندی چېری — زه مهجور ئې په وصال شم برابر
برابر کړه ربه. ما د یار په وصل — چه زه نه یم د وصال په حال خبر

. . . . . .

خطی تجنیس:

هوس مه کړه په دنیا کښی د نشاط — چا موندلې دې نشاط په دابساط

تام مماثل تجنیس:

ستا د تورو ستر گو نور په جدید شوی — په هر ځای عاشق نیوه شی تل په تور ستا

د کلام نمونه:

زه پر تا باندې مین یم تو ره تکه — ځکه دا رنگه ثنا وایم ستا ځکه
دمشك بوی خو تر یو کس تر دوو، رسیږی — دا ستا فیض وعالم ته رسیده کسه
را ته وایه چه په کومه خوادی غواړم — خبر نه یم په هوائي که په مځکه
خوار بنده غواړې چه کار په تدبیر جوړ کا — تقدیر خاندی په خندا خندا خپل کړه که
دبنده په تدبیر نشی کړو نې خدای دی — چه خدای نه که ای یارانو بنده څه که

زه جدید ئی منت باره په بار بار یم
که اوس یار دواړه لبان زما په خوله که

نن چه نه گوری و ماته څه بلا شوه: — که دی نوې اشنایی له چا پیدا شوه
معلو میږی کم طالع شومه دلبره — چه اول دی راته مخ ؤ اوس دی شا شوه
دازما کم طالعی نه ده نور څه ده — چه مې دا رنگ و فا داره بېو فا شوه
که ژړا کړم که فریاد نه راته گوری — بې پر واهسی سنگد له دلربا شوه
ما ول عشق نه دی هوس او تماشا ده — اوس بلا راته هوس او تماشا شوه
په بازی بازی ئې زړه را څخه یو وړ — چه مې ولیده بازي نه وه رشتیا شوه
مالا تمه د بوسې ځنی کوله — لامې لاس وروړی نه ؤ په غوغا شوه
څوك به تمه د وفا که له خوبانو — چه وفائی په مذهب کښی نا روا شوه
ما لا مینه د خوبانو په غلا غلا کړه — اوس بدنام شوم په تمام عالم رسوا شوه

په دعا دی عشق له خدا په غوښت (جدیده)
خوشالی کړه اوس قبوله دې دعا شوه

ښاغلی محمد طاهر بورکی

خانګل

خانګل خپل سپین ځنځیر
چه څوکه ئې دواسکټ په
دوهمه تڼۍ کښې بنده وه ورو
راو کښل او یو ګرد ساعت ئی
چه دسرمیزی ساعت ته ورته ؤ
تري راو ویست ورته ئې وکتل
او بیائې په چرمی پوښ کښې
کښیښو د او بیر ته ئی
جیب ته کې .

یوه شیبه لا ه وه تیره شوی
چه بیا ئې خپل ړومبنی کار
تکرار کې په ډېرې خلق تنګۍ ئی
شا ؤ خوا وکتل شونډو
لاندې وغوڼیده اووئی ویل چه
لا پوره یو ساعت « دمازیګر
رخصتۍ ته پاته دی ورځ نه ده
د نوح عمر دی په چای او
ډوډۍ تر ٤ و نیم بجو کار
کول .... »

یو ښکلی ځلمی چه دخونې
برې خوا ته د یوه ښکلی میز
تر شا ناست و او په پنسل او
کلم ئی د کومې اکتریسی
تصویر جوړا وه د خانګل
غوڼیدو ئې دخیالونو سلسله وشلوله
سرئی را پوز ته کړ څوکۍ
کښې بیرته ولویده په خپلو غوټه
غوټه ویښتو ئی لاس راو کیښ
شونډی ئې سره غونجې کړې او
په مخصوص طرز اوادا سره ئی
وویل « اها که مسترخوښ نه وی
کولی شی چیر ته ښه ځای ته
تشریف یوسی . چاخو به ئی پښو
کښې زولنې نه وی ورغورځولی:
خانګل د زړه له سوزه یو
سوړ اوسیلی وویست اووئی ویل »
« زمری خانه! »

دبی وزلو دپاره زولنې لاڅه
چه ټول وطن ورته اوردی
سړی به چیرته ولاړشی هرچیرې
همدا دیګ او همدا شلغم دی.
په هری دائری کښې زیات
له دوسوو روپو تنخوا او دوه
روپوما کولاتو څوك چا ته
نه ورکوی »

زمری یو د سپینو سګرټو
ډبلی چه د یو ې ښکلی ښځی
څپره ترې له ورایه ښکاریده
له جیب څخه راوویست ، یو
سګرټ ئې ورځنی وکیښ او
د خولې په کونج کښې ئې
کښیښود او یو ښکلی لایټر چه
دده له خولې په شپږسوه روپو
په امریکا کښې ورته اخستل
شوې ؤ څوواری ورته کښته پورته
کړ خو کار ئی ورنه کړ نو هومره
چه خانګل دورځی له اوږدوالی
څخه په تنګ ؤ دی دلایټر دنه
لګیدو څخه خوابدی شولایټر ئی
په میز و ویشت مخ ئی هغه
سپین زیری ته واړاوه چه دوره
په خوله کښې په دوه پښو ناست ؤ
یو ه پیکۍ خولۍ ئی پرسر
په هغه سره اوړی کښې ئی وړینه
خړه د چپراسیانو دریشی اغوستی
او دخیال په سین کښې ډوب ؤ
زاړه د خیال په نړۍ کښې
دنووهلکانو او دهغوی دموډله
فرمایشاتو څخه ځان ژغورلی
فکر کاوه چه اوس په هغه دولس
روپۍ چه تیکه دار دشر ینۍ
وعده ورسره کړی وه اخلې او

سبا به دجمعی په ورځ زوروره
میله پری کوی ماینی ته به
د کاچې دپخولو فرمایش ور کوی
دی به اوړه او لرگی راوړی،
زوی به په غوړو پسی لیږي کوچنۍ
لور به ئی دیگی سره ناڅی ماینه
به ئی کاچی پخوی، پاته شوی
شکره. شکره به هم له (کجل)
څخه په پور واخلی مگر نه له
(کجل) څخه لس روپۍ پخوا
هم پوره وړی دی، نور ئی نو
(کجل) ته کوم اعتبار ندی
پاته.

له سره حساب کوی او غواړی
چه دا پیسی سره ورسوی اته
روپۍ یو چارك زوړه پاته شوی
څلور روپۍ، دوه روپۍ لرگی
او دوه روپۍ غوړو ته پاته شوی
خدای ئی رسوی دوی ئی رسولی
نه شی که نه شو نو بی شکری
او کم غوړه لیټۍ به سره
وخورو، سپین ږیری مامانوی
مړۍ له غوړو راوبستلی دمجمی
په زۍ ئی گرده کړی او همدا
چه خولی ته کوله ئی چه دزمری
د پاپا «میچز» ږغ ئی ترغوږو شو
خپال تری لاړ پور ته و غورځید

لاس او پښی ئی سره ولاړی او
له ځایه پاڅیده زمری په
شونډو کښې مسکی شو او وئی
ویل «بابا خیال پلو دی واهه؟
گوگړ را کړه»

بابا دتمباکو له چارخانې
څخه چه دخاورین چلم خواته
اپښی ؤ گوگړ راواخست رائی
وړ او په دواړو لاسو کښې ئې
په ډېر ادب زمری ته وړاندی
کړ زمری سگرټ و لگوه
بیرته ئې څوکۍ ته تکیه
وکړه او خانگل ته ئی وویل
بوازی د ماموریت کارخانه
دی او د تعمیراتو او فابریکو
کار ته هم کار نه ویل
کیږی»

خانگل چه بیا خپل هغه
ساعت له جیب څخه راویستلی ؤ
او په گرزېدو کښې ئې ورته
شك پیدا شوی ؤ ستنې ته ئی
ځیر شو غوږ ته ئې نژدی کړ
او زمری ته ئی وویل «زه
وروره په دی خبرو پسی څه گرزی
ددی ښکلی میز له شا څخه څه
ویل او دخلکو سرنوشت تاکل
ډېر آسان کار دی له بدې مرغې

چه زمونږ د ژوند واك هم
ستاسې په لاس کښې دی که
چیرې تاسی یوه ورځ زما او
یاد کوم بل مزدور د ژوند
خوندلیدلی وای نو پوهیدلی به
وای چه زمونږ ژوند بس یو
ځنکدن دی همدا دوه میاشتې
پخوا خوار گوټی (خانکی) چه
د (ج) په اپارتمان کښې ئی
کار کاوه نامراد د دیوال په
سر ولاړ ؤ او دچونې ډولچی ئې
پورته کولې دماز دیگړ تو له وشوه
مزدوران یو یو له خپلو کارو
راو گرزیدل همداوخت تیکه دار
په خانگی غږو کړ چه هله برکت
ووینې دوه ډولچې نورې پاتې
دی دا هم پور ته کړه چه سبا ته
پاته نه شی «خانکی» لادو همه
ډولچه تر نیما ئی نه وه پورته
کړی چه سترگې ئی تورې شوی
له دیوال څخه راغوځار شو
تیکه دار دخانکی خواته نژدی
ولاړ ؤ ترڅو چه ده غوښتل چه
دخانکی خواته روان شی د «ج»
صاحب موټر راورسید تیکه دار
له لاری راو گرزیده او موټر
ته ورغی.

(ریدی گل) (نوردلی) او
دورو مزدورانو چه دڅاپه ژی
ئې پښې پریمنځلی خپل څادر
او څپلۍ ئې ځای پر ځای
پریښودلی او دخانکی خواته ئې
ورمنډې کړلی خانکی ته ئې
غږو کړ په غیږ کښې ئې سره
راپور ته کړچائی لاس موده او
چائی پښې چا اوبه پری اچولی
او چا ورته ژړل ډېرو خانکی
نه پیژانده مگر دا چه واړه
مزدوران وو او گډسر نوشت ئې
لاره نوتول د خانکی خواخوږی وو
«ج» صاحب له مهندس او ټیکه دار
سره تعمیر ته ننووت لکه چه خانکی
ئې نه وو سره لیدلی که څه هم
ټیکه دار لیدلی ؤ خو هغه پری
چرت نه واهه ده چه روپۍ
لرلی سباسل کسه د خانکی غوندې
ورته تیارسۍ دریږی. نیمه شپه
تیره وه چه د تعمیر له مینځه
راوونل د «ج» صاحب ستر گې
چه په خلکوو لویدی پوښتنه ئې
وکړه چه څه خبره ده ؟
ټیکه دار وړاندې شوو ئې ویل
«کربان یو مزدور کارلږ څه
ژوبل شوی دی «ج» یو څه
زړه سواندی غوندی لاره وړاندی شو

خلکو لار ور کړه خانکی ته
ور نژدی شو هغه ئې چه بې سدة
ولید سر ئې وښوراوه او وئې ویل
«هی هی، خوار کوټی څه
چټه ځوانۍ لری که مړنه وی
زرئی ډاگتر ته یوسۍ «ج»
نوده وویل نورنو وگرزېد او
دخپل موټر خواته روان شو
مهندس او ټیکه دار یو گام
بیرته ورپسی رهی وو،
ج صاحب د مهندس نوم
واخست او پوښته ئې ور څخه
ور کړه چه د کړکیو کرنیزو ته
د مرمرتیږې ږدی یاد گرك ؟
خانکی ټول کال ډوډۍ دویالی
له اوبو سره خوړلی وه او په
دادومره موده کښې ئې یواځی
درې سوه روپۍ سپمولی وې او
غوښتل ئې چه دخپل واده اسباب
پری برابر کړی دخوار له بدې
مرغې هغه روپۍ په دوا او
دارو ولگېدلې او شپږ سوه روپۍ
نور هم پوروړی شو.
بیا کاشکی روغ شوی
خووای او داسی نه چه بیوزلی
دمړی په شان د کوټې په کونج
کښې پروت دی نه مری او نه
رغیږی خوار کۍ مور ئې هر وخت

خپل نامراده زوی ته گوری
نگور ئې په زړا کیږی چه دناداری
او مفلسۍ له کبله په کور ناسته
ده نو ځان خوری او نژدی ده چه
لیونۍ شی کله خپل مخ په څپړو
وهی کله خپل ویښتان شکوی
کله په مړو او ښکو ژاړی او وائی
«زما نامراده زویه ته خود ککو
دلور دولور شهید شوې ته چه ته
ئې زه به هغه څه کوم نور نو زما
دژوند او کور سره څه پاته دی
خدای خودی ماله تا څخه ړومبۍ
کړی» خانکی په همدی حال کښې
هم خپلی مور ته ډاډور کوی
ورته وائی «ادکۍ ځان مه
زوروه دا به ما ته له ازل نه مقرره
وه په دی به دخدای اراده تللی وه
هغه وخت چه «گلك» دقند
دماشین په پرو کښی ونښت او له
وینو او غوښو څخه ئې بوره
جوړه شوه ملا صاحب ئې په گلم
ناست ؤ او وعظ ئې کاوه (په
ربړو اوستونځو کښې دخدای
لوی حکمت دی ځگه چه بنده
گنگار دی او هغه څوك ئې چه
غوښتی وی په دی دنیا کښې ئې
ربړوی او ستونځی ئې او له گناهو
څخه ئې پاکوی) ادکۍ

خدای مهربان دی مونږ دواړو
ته به اجر را کړی ډېره مه زوریږه
چه اجر به مو کم شی په هر حال
شکر . دخان ګل خبره لانه وه
خلاصه شوی چه زمری دتصویر
له ښکلو لوسرر ایو رته کړ اووئی
وبل داوس نو ته دخپل خپښ
او قوم ژوند ته و ګوره ته هم باید
شکرو کاږی او ترڅو چه ژوندی ئې
زما د شیر آغا جان احسان
هیر نه کړی» آنیر کال همدا
ورځې وې چه درسیدا نو کتاب
دی ترتخرګ لاندی او شعبه په
شعبه به ګرزېدلی او په دې ارمان
وی چه بیا ګډه شی ګډ کیږ نی
دشیر اغا جان زړه مې دریاندې
وسوزیده او نه ئی کاتب کړې
مګر اوس به دی هم ورځ کیږ کوی
دسرکاری تعمیر اتومزدورانو
په شان له حاضری څخه لایو
ساعت بخرا لاس په لاس ږدی
او درخصتی غیږ نه غوږ ږدیسی.

اخر دا وطن به مونږ اوتاسی
دمور په شان حق لری مونږ ئې
په خپل غیږ کښې رو زلی یو
زمونږ ژوند د همدی خاورې
واحسان مرهون دی مګر نه
داخلک ار وړه شو دی دو طن
دوستی حس ورک او اخلاق فاسد
شوی دی دایثار او خود ګذری حس
ورک شوی او حق او وظیفه څرک
نه بیژنې تول په رپیوپسی زغلو
څو ورځی پخو امطبعی ته ولاړم
او د ګل لالا دلیدلو کار تو نه می را
ورل کړ یکرمې ولیدل چه درست
مړ ژړاندی او رنګ ئی د کتلو نه ؤ
په توله ورځ کښی ئی د دوو پیسو
کرنه کاوه نری نری لاسو نه ئی
شپه په لاره د حرو فواله ډلی
څخه دچاپ تر صفحی رسیدل
هلته مې ګاړو پائې فلم یوه صحنه
راپه یاد شوه چه کاریګر وئې
په څه شوق او علاقې کار کاوه
او ستومانی ئی اړو نه پیراندله
هغوی له وطن او خاورې سره
علاقه لرله او مونږ له رو پیو سره»
خانګل وو بل زمری جانه ته
ښه وائې مګر دو مره ده چه په
جهان کښی دفطرت دقانون به
اساس دهر هی جوړ یدل او یا
دهر شی ورا ینډل دنوی پیدا کیدل
او د زاړه له مینځه تلل او تول
تغییرات او تحولات دخان ته شرایط
لری دساده عامیانه پوهې له

مخی که هم و ګورو په دی خبره
هر شپون او هر سارائی پوهیږی
چه که ورېځ نه وی باران واوره
او زلی چیر ته نه اوری که
حرارت نه وی او به نه تودیږی
او بیا هغه تا کلی معین شرایط
چه دوروکی د تولد دیاره ضروری
اولازمی دی موجود نشی نو زمری
او یا خانګل هم پیدا کیدلې نشی
او همدارنګه کله چه یوه تولنه
وړاندې درومی او یا مخ په زوری
کیږی په ولس کښی ئی بوه جذبه
او مینه پیدا کیږی او یا کومه
جذبه ئی چه لر له هغه ورو ورو
سړیږی داهم همغه رنګه تا کلی
شرایط او عوامل لری. که دا نه
وی نو پښتانه لدې کسبله چه
انسانان دی له تورو انسانانو
څخه کوم کمی نه لری او که
زاړه نژادی امتیاز طلبانو خلکو نه
و ګورو نو دا چه آرین دی
پرډېرو نورو نژادو تفوق او برتری
هم لری او دا چه تن ورځ نور
کا مونه وړ څخه به مخ تللی
دی او یا دا چه ناو رودو دونو
ددوی لمن نیو لی ده او ستاسی
په اصطلاح اروره شوی دی .

داهم دنورو علتو نوزیږند،
ده چه دپوهې په رڼا دملی او
جهانی تاریخ په ښودنې او اوسنۍ
اجتماع لټ په لټ کولو کښې ئې
اهل خلك منید لای شی .
او که دانه وی نو تاسی چه
دارنګه وعظ کوی ءله کومه په
دې خبرو ایمان اوله وطن سره
علاقه ءلری اوله کومه چه تاسی
هم خپله تاکلی وظیفه اجرا کوله
او یا کوم شهوانی رنګین خیال
مونه جوړاوه اوله کومه چه ته
په دې خبرو خود نمائې نه کوې
او مونږ نه غولوې » میرزا کاکا
چه دزمری له میز څخه کوزناست ؤ
په شونډو کښې و مسکیده خو
هیڅ ئی ونه ویل زمری چه ولید
میرزا کاکا خندنی شو او دخانګل
خبره هم یو حقیقت واودی داکتر
یسی دتصویر په جوړولو بوخت ؤ
نو سورو خو تیده او حیران شو
چه څه وکړی. ده له سره ګمان
نشو کولی چه دآتیر کال چیراسی
به نن په دی خبرو پوهیدلی وی
او داسی به سپینی خبری کوی
اوردړد ځواب به وائې دده په
خیال کښې هم نه ګرزیده چه

دهغې زړې چترالۍ خولۍ او
دشکیدلی لیلا می بالاپوش څښتن
به اوس په دومر خبرو باندې
پوهیږی ،
زمری ته هغه ورځې شپې مخ ته
ودریدی چه څو کاله پخوا خانګل
ددوی په کور کښې کار کاوه
او ده ټوله ورځ فکر کاوه او
داسی شیان به ئی رابرابرول چه
خانګل پری وربړوی او له ربړولو
څخه ئی خوند او مزه واخلی
هغه ورځ چه دوی په نوی ښار
کښې ودانۍ جوړوله ده یوغټ
لرګی چیرته پټ کیښو داو
دخانګل راتلو ته ئی کتل کوم
وخت چه خانګل له بازار څخه
غوښه راوړه زمری ورو
ورو ورغی لمنه ئی ورته ونیوه
او څولر ګیه ئی په پښو پښو وواهه
خانګل چه دده لاس ونیوه نو ده
چیغه کړه چه وی لاس مې مات شو
وامور ئې اشپز خانې ته تللی
وه او اشپز ته ئی دفیل دغوږ
د پخولو فرمایش ورکاوه دزمری
زغ ئی چه واوریده و خطا له
اشپزخانې راووتله په راو تلو
کښې ئی دوه ګردنر قاشقاری غوری

او دوه دجانان ګاسی دمیز له
سره واویدی او ماتې شوې خو
داپرې ونه پوهیده او ځان ئی
حویلۍ ته ورښاوه که کتل ئی
چه خانګل ترمخ او زمری ورپسی
لرګی ئی په لاس ځغلې خاندې
اووائی چه دسنګ کش خره
هم همداسی ځغلې .
مورئی چه دوی ولیدلو ئی
وویل « یتیمچکه خانګلییه له
اوله دی ولی ونه ځغاستل »
سم په دی پسی ئی هغه بله ورځ
ورپه زړه شوه چه کوچې په
اوښ باندې دوی ته غوړی
راوړی ؤ داوښ څښتن اوښ له
وندنې نیولې وځمکی خواته ئی
را کاږه او څملا اوه ئی چه
ژی ور څخه را کښته کړی.
خواوښ نه څملاسته او کوچی
خپل اوښ په ښنګری وواهه
بیائی وندی تری راو کیښ او
اخ ئی ورته وویلې اوښ وغړمبیده
او په ګونډو شو . دې صحنی
یو خاص اثر دزمری په فکر کښې
پری ایښی ؤ ، څوواري ئې
وپو ښتله چه خانګلی چیرته
تللی دی مازدیګر چه زمری له

مور او پلار سره د حویلۍ په
چمن کښې برخو کیو ناست ؤ
او مازدیګر نۍ ئې خوره له خانګل
حویلۍ نه دننه شو زمری مړی
پر بیښو د او پر خانګل ئې وداګل
او هغه ئې له ګریوانه ونیواخ
ئې وزنه وویلی او ځمکې ته ئې
کش کړ او په ښنګری ئې په
لغته وواهه .

خانګل واخ وویلی په ګوندو شو
او خپل ښنګری ئې ونیو
زمری له خندا شین ولاړ او
مور ته ئې وویلی شاه بی بی کوچی
هم نن خپل اوښ داسی په ګوندو کړ
پلار ئې و خندل او مور ئې
ورته وویل .

ه زو په خانګل یتیم دی
مدئ ازارو مه چه ښیرا به درته
و کړی ، زمری که څه هم
له خانګل نه په عمر کم نه ؤ ،
خو چه د کور ازدانه و هر څه ئې
چه کول چا ورته څه نه شوای
ویلی . زمری به واري و غرښتل
چه ورجګ شی او د هغې ورځې

په شان لرګی به خانګل پسی
واخلی او ئې ځغاوی او یا د هغه
قلم د کاوبای ګیبرو په شان
خانګل جګ شی به دامخ مخ ئې
په سوک وو هسی او خپل زړه
بزی پخ کړی مګر جرئت بی
ونشو کولای ځکه چه اوس هغه
وخت تیرشوی ؤ نه نور خانګل
هغه چیرا سی به خوبو بی ژبی
د دوی مزدور وه او نه یی مور
د ته وه چه ور ته ووایی
ه خانګلیه ایتیچکه خو له
اوله به تښتیدلې وی زمری هم
په دی ښه پو هیده چه که چیری
خانګل هم پو و ار په عوسه
کیده د دری کو زور به هم
پری ونه رسیږی او بیا به هیڅ
بند نه دی که یی څرك مرهم
کړی واخ به ونه وایی سم له
دې فکر سره یی هغه بله ورځ
هم ریه زره شوه چه ده به کوڅه
کښې د رئیس زامنو (کرندی)
او (منګیالی زورا وه او یا هغه
وخت کښې خانګل ورورسیده

هغه دواره ئې بسی وا خستل
د رئیس موټر راوزسیده موټروان
له موټر څخه پیاده شو او کوزشو
او دری واره له خانګل سره
ونښتل مګر د تولو زور به خانګل
ونه رسیده بلکه یخپله دوی
ژوبل او کمزور کړ شل کرم
وخت چه بولیس نو خانګل
ماموریت ته بوته زیو د رئیس
صاحب د خوښی دپاره مامور
صاحب خانګل د وه سوه لښتې
وواهه مګر ده سره له دې هم
اخ قدری ونه کړ . زمری په
دی ښه پو هیده چه د خانګل زور
د زمری دی او اوس ئې چه پوهه
هم موندلی ده مقابله ورسره
د ځان سپکول دی . دی به همدې
کښې وه چه نظر کاکا له
هغې بلی خونې راغی ورته ئې
وویل څه کوی لکه چه د شپې
هم دلته پاته کیږی که نه وی
نو وخت خوبوره شوی دی ،

(ای)

که ظالم مې ژبه غوڅه کړه تېره شوه — نوره څومره چه تېره شوه لاخوږه شوه
اوس که تروی نو عرزو نه ګې خپل پر یکړی — چه زما نغمه سره زړه شوله سره شوه
(اجمل خټک)

* * *

غټان . غټان . نېکان . نېکان پیدا دی — دوی خوله خپله خبیثان پیدا دی
لخپله هغو خوار وله جنت وګټو — څوک چه له موره دوز خیان پیدا دی
(اجمل خټک)

* * *

چه نېشه داستبداد اری په سر کښی — مانه یودی که معلم دی که افغان
چه زما د کور ازغی ته کاږه ګوزی — واهه لور شوی دهغه په ګدمان
(اجمل خټک)

(د ۱۱ مخ پاته)

له هر لحاظه ارهری زمانی څخه راغلی وی) براتلی پرېږدی . که چیری د کوم ملت لخوا ان یو الحی دیو معین ثقافت پا حدود و کښی محدود پاته کیږی ودبه لویه خطاری که موږ هغه ته دمثقفو لخوانا و نوم ور کړو او داحکه چه ثقافت کوم خاص علم او خاص فهم او لحفظ دی بلکه ثقافت دعلم او فهم به اوخ کښی یو راز شعور او ذوق دی چه د معرفت او طبعي ترمنځ یو ملائمت او نیزد یوالی راولی زموږ دتعلیم اوی آفت همدغه دی چه هغه نل کوښښ کوی چه مغزونه له معرفت څخه ډک کړی ایدی . بسی نه کرزی چه معرفت یه زړه نو او ذوقو و کښی هم باید کم اثر پریږدی او که انه ؟ نو له معلم کیله دا تعلم نشی کولای چه په زړه نو او ذوقو نو کښی دیوه آزاد نغور او قوی حریت نه لګی کینوی .

پر حقیقی مثقف سړی کولای شی دزړه له کومی یقین و کړی چه سره له دی چه دی پر خاص وطن لری یو هم نوله نړی دده عام وطن دی ، دا مثقف سړی وروسته له دی پوره پر بالی دی چه هم به چیل وطن کښی او هم له چیل وطن څخه دا بدی دپر شفاه زوند و کړی .

مثقف ملت دمعرفت او وعنی زیاتو او نه دارتیا احساس کوی او و هیږی چه او سنی پرهنه دهغه دپاره کفایت کوی .

که چیری دعلم او ثقافت دواګو مشران او د لخوانانو دروزنی لویان زما په پورتنیو خبرو یو ځیدلی وی دوی نه به دی امکان پیدا شوی وی چه دخپلو ملتوا مال او هیلی دترقی پاره یو ری حد تهورسوی (پای)

کوی .هماغه‌شان چه‌لکه خپله ښځه کله دیو لښکرنه فتح کوی.
سکندر په‌تمسخر سره وویل :

زه دا څیزونه‌محض دروغ گڼم او په‌دنیا کښی ښځو ته بیل قسم..
ایری ژیئیوس دفاتح په‌خبره کښی ورتوپ کړواووئی‌ویل:
اعلیحضرتا ..! «هلن» به‌ستاسو نه وی هیره شوی ..؟ (۱)
په‌دی وخت کښی چه‌دمقدونی زړه‌تنگ شوی‌ؤاوژرئی‌غوښتل
چه‌دمطلب آخرته ورسی وویل :
ایری ژئیوس ..! ته کښېنه ، دښځی دنوك زخم ته دی تکور
ورکوه‌زه د کارانوس سره‌جیل ته‌ورځم او ..

جرنیل په‌وار خطائی دفاتح خبره‌پر یکړه اووئی ویل :
اعلیحضرتا ...! ستاسو ورتگ فایده نه کوی . ځکه چه هغه
پیغله دخبرونه‌ده اودسینی نه‌ئی‌وینی څاڅی ..
سکندر چه دخپلی خبری‌سره سم دروازی‌ته ورنژدی شوی ؤ
بیرته‌راو گرځیداوایری ژیئیوس نه‌ئی‌په‌دروندآوازپوښتنه‌وکړه:
دزړه‌نه‌ئی‌وینی څاڅی.. گمان کوم چه‌تا ...ایری ژیئیوس چه‌رنگ‌ئی
تسك ژیړ شوی ؤاو حلق ئی‌وچ‌وچ کیده . مقدونی ته وویل :
نه‌اعلیحضرتا ..! هغی‌خپله ځان ووهلو ، ویل‌ئی سکندر چه
ژوندی پاتی دی‌نوزه باید مړه شم ...

مقدونی فاتح ددی خبری داوریدو سره‌سم ، د کارانوس سره
روان‌شو ، په‌هغه‌توره‌تیاره کی چه ستر گه‌به‌نه‌ښکاریدله د کیمپ
نه‌بهرشو اود جیل‌خوا ته روان شو .

---

(۱) دې‌یونانی پیغلی دتردا ښار چه‌ډیری لښکری‌ترې‌تاوی‌وی‌فتح کړ...

(۱۸)

دفرساګ قاصد

(۲)

دبادطوفان اودباران شیبی هماغه شان روانی وي.، وریځی داسی تخته شوی وی تابه ویل چه توره کپړه چاداسمان په مخ.. غوړولی ده.. پاس دګړګړ اودلری نه دبریښنا وو اوازونو سړی لړزولو، داسی معلومیده چه دغه دی اوس به آسمان په ځمکه راولویږی او یا به همدغه سم دستی غرونه راونړیږی..، خومقدونی سکندر بی پروا دخپل جرنیل کارانوس سره لاروهله او جیل ته روان ؤ.

خبری او ګړبړ به ئی نه کاوه.، او یا خوئې دچا خبره ژامې نښتی وی اوجدا کیدی نه.. فاتح مخکښی او کارانوس ورسپسی ؤ.، فراخه فراخه ګامونه ئی اخیستل، په ختو اوچکړ و کی ئی پښو چړ کهار کاوه...

نیم ساعت لاروهلونه وروسته، دلېری نه په توره تیاره کښی یوه وړه شانی رڼاښکاره شوه لکه په یو اوږد ټاپو کښی چه سړی تیلی (دګوګړ پلته) ولکوی، سکندر در ڼادلیدونه خوشحاله شو.، ایله ئی تن کښی ساه وچلیده مخ ئی جرنیل ته راواړاوه اووئې ویل:

کارانوس! هماغه رڼابه زما په خیال دهغې ارا کوزی جیل وی کنه..؟! جرنیل چه دسر اوپښونه ئی او به روانی وی جواب ور کړ:

نه اعلیحضرتا! هغه دپیره دارانو ځایونه دی ،. مقدونی په درونـد آواز، په تعجب سره سوال وکړ :

عجب.. دپیره دارانـو ځـایونـه ..؟. دیوی پیغلی دپاره څو تنه پهره داران ؟؟ کارانوس لږمخ کښی شو ،، او فاتح ته ئی جواب ورکړ :

اعلیحضرتا..! اوه تنه دهغی جینۍ ساتنه کوی... سکندر چه نورهم په حیرانۍ کښی وردوب شوی ؤ، مخ ئی جرنیل ته واړاوه او په تمسخر سره ئی وویل :

دا ارا گوزۍ پیغله راته ښکاری چه په زور کښی د «هر کول» (۱) نه هم زیاته ده ،؟ کارانوس دفاتح ددی خبری جواب ورنه کړ ،، ځمکی ته ټیټ شو او په تیاره کښی ئی دروند و په شان په لاس وهلو بناو کړه ،، شیبه وروسته ئی ناڅاپه چیغه وکړه او فاتح ته ئی غږ وکړ :

اعلیحضرتا ..! اعلیحضرتا ..! دلته دبنیادم ،، دیو انسان لاش پروت دی. سکندر چه لږ لږ د طبیعت دقهر او غضب نه او ورسره ورسره دهغی ارا گوزۍ پیغلی دوجود نه په وبره ترهه کښی ورننوتی و د کارانوس ددی چیغی نه ولړزید او په ځای ودرید ،، بیا په کرار کرار دلاش خواته ،، هلته چه جرنیل ولاړ وروان شو..

---

(۱) هرکول دیونان افسانوی پهلوان ؤ چه دڅو سری ښامار سره ئی جنګونه وکړل .

مقدونی سکندر برابر لاړ د کارانوس څنګ ته و درید . ' بیا دجرنیل په‌شان ښکته شو او په لاش ئی لاس را ښکو .. په‌تیاره‌تیاره کښی ئی دهغه سراوپښی ولیدی ..' داوسپنی خول ' باز وبند' دسینی پوخ او دپښو فولادی پاپیچونه پوه شو چه‌لاش دهغه دلښکرونه یوتن دی ..' نو په‌ستر ګوئی دمرګ تیاره راغله‌او په وارخطائی ئی جرنیل ته وویل :

کارانوس.' الاش دیونانی سپاهیانو دی.' ددی جامو او خول نه‌ئی پوی شوم.' هوهو .. یونانی سپاهی دی .' اوف کارانوس ددی یوتن په‌ځای به‌زه ددی ملك خاوره په‌توبره کښی کړم.' او ته'. درسیدو سره سم دچراغ په رڼا کښی دالاش .. ' دازما سپاهی هلته کیمپ ته راوړه .. مقدونی فاتح سوړا و سیلی وښکو.' دودئی ددرونی نه راووت ' بیا چالاکه چالاکه روان شو ... کارانوس هم ورپسی ؤ.

په لاره کښی سکندر د ځان سره راز راز فکرونه او جاجونه وهل.' په دی څوورځو کښی چه‌دی دآریانه راوتلی ؤ په داسی غمونو' دردونو او سختیتو ګرفتار شوی ؤ چه په‌تول عمر کښی ئی چیرته نه‌ؤلیدلی.. لږ څه وروسته درڼا ځای ته و رنژدی شو.' په تیاره کښی سکندر غږو کړ او پهره داران ئی خبر کړل.. او ه‌تنه چه دفولاد و کالی ئی اعوستی ؤ فاتح ته سلامی ودریدل ...

سنکدر چه په فکر او روح کښې ئې انقلاب کډو، دهرڅه نه ئې
او مړی دوه کسه د کارانوس سره کړل چه لاړشي او هغه لاش .،
هغه چه مخکښې هغوی لیدلی ؤ راوړی او بیا په ډك زړه کیمپ ته
ورننوو ت .

په کیمپ کښې دننه یووړو کی شانی چراغ بل ؤ .، دچراغ
په رڼا کښې دسکندرڅیره داسی ښکاریده لکه چه په مخکښې ئې سور
رنګ دوړیدلی وی .

باران لږ لږ کرار شوی ؤ .، خو کړ کړ او بریښنا کانی لاهماغسی
په اسمان کښې وی .. قاتح چه دچراغ شغلی ته کتل سپاهیانو ته ئې
وویل :

تاسو نه خوڅوك زخمی یا مړه ندی . ؟

نه اعلیحضرتا ...

هغی اراکوزی پیغلی سره ایری ژئییوس څه وکړه .؟ !؟

اعلیحضرتا . ! جرنیل یوازی جیل ته ورغلی ؤ ..

دجیل په دروازه کښې څوك شته که نه ؟

نه اعلیحضرتا .! مونږ تول وسله په لاس دهمدی ځای نه هغه
پیغله سا تو . ..

آرته بازیوس دخپلو لښکرو سره دجیل شا ته دی که نه ؟؟

هو اعلیحضرتا ! دجیل مخه مونږ ته ده او ددی ځای نه

جوړ ښکاری .'

هغی جینۍ ته څه خوړل څکل ور کول کیږی که څنګه ..؟؟

اعلیحضرتا .! یوازی سیلو کاسیس هغی ته ورنژی کیدی شی' ځکه هغه پښتنه پیغله هغه ته ښه ګوری .. په دی وخت کښی چه سکندرخوله خبری ته جوړ وله کارانوس او هغه دوه کسه نور چه لاش ئی دلاس اوپښوله نیو لی ؤ راننوتل .' اوفاتح دلاش په لیدو ناڅاپه دځای نه جګ شو .. کار انوس اوهغو نورودچراغ په رڼا کی لاش دمقدونی سکندر مخکښی کیښود اوخپله بلی خوانه ودریدل . فاتح لاش نه ځیرشو .' بیاورته په مځکه کیسناست' په کراره ئی ورته خول دسره لری کړ .' ورپسی ئی ورله فولادی زغری خلاصی کړی او چه پوره ئی و پیژ اند نودخپګان نه ئی ستر ګوله ژړا راغله' لاس ئی ورته په سینه کیښو داووئی ویل:

تیدیاس ..! ته هم ددی سپېری خاوری خوراك شوی .' ته هم پښتنو دژوندنه خلاص کړی .' اوه تیدیاس تاخوځان ته .. تا خو ... تاخو .. تیدیاس ! مادې چنغلی سره وعده کړی وه چه بیرته دی ورته ژوندی ورسوم '' پلاربا نیګوس سره دی ماقسم یاد کړی ؤچه .. چه .. اوف خدایه' کاش دامرګ خوتاهرګز په دنیا کښې پیدا کړی نه وای .' اوچه پیدا دی کړونو کاش بیا خودی ورته ویلې ؤچه ځوانان نه نیسی .' او هغوی سره چه

میړانه، غیرت .، شجاعت اوقوی زړه ولری مخامخ نه شی :

ددی خبروسره دمقدونی دستر گونه څا څکی څ څکی اوښکی توئې شوی .، اود تیدیاس په زخمی سینه دو ینو سره ور گډې شوی .، سکندر خپلو خبر وته پسی دوام ور کړ :

په وړ کو توالی کښی زه اوتیدیاس د واړه د «لوسما خیس» (۱) سره په سبق کښیناستو، مونږ دواړو پوره مینه او محبت سره لرلو .، کله کله به ما او هغه دواړو «آرامیس» پیغلی جنگ کاوه ...ده به هغه ځانته را ښکله اوما به ځان ته .. اریا به ما په غیږ کښی ونیوله تیدیاس به ئی زریښونه چاپیر شو .. او په دی منځ کښی به آرامیس خندل.

اخ ای پاکه ربه ته نو ولی دومره .، دومره .. اخر ولی داسی ښائیسته ښائیسته او دغیرت نه ډکی بشری خاوری کوی .، چه انسان دی راپیدا کړ نو بیادی دامر گی ولی ورسره څنگ کی ودر اوه. ؟؟؟ سکندر لږ لږ داسی خبر وته ور گډ شو چه د سړی گمان پری دلیونی راتلو، او که په دی وخت کښی کارا نوس ورنژدی شوی نه وی نوخدای خبرچه نور به ئی څه څه ویلی و.

کارا نوس ورولاس دمقدونی په اوږه کیښود او په احترام ئی عرض وکړ :

---

(۱) دسکندر استاذ ؤ .

اعلیحضرتا.. آرته بازیوس احترام کوی.. سکندر چه په هغه حال کښی د آرته بازیوس نوم واورید نو یو ځلی پاڅید او په دروند آوازئی وویل:

آرته بازیوس. ! د تیدیاس د جنازی سره دی دهغی ارا کوزی پیغلی جنازه یوځای شی.' د دی ساعت نه و روسته د «تندر» خونی ډلی سره جګړه شروع ده.. سم دستی هغه ارا کوزی را حاضره کړه.. آرته بازیوس چه د بوت په شان بی حرکته ولاړو' د فاتح دامرد اوریدو سره دواره له دروازی نه ووت.' اربه منډه منډه د جیل نه دارا کوزی در اوستو ډیا ره روان شو. د آرته بازیوس د تلو نه لالږه شیبه تیره نه وه چه د سکندر زړه ناطاقته شو او خپله ور پسی ور وووت. لږ وروسته مقدونی' چه کارا نوس او نورور پسی ؤ د جیل دروازی ته ورورسیدل هلته په دروازه کښی پښه نیولی شو او چه آرته بازیوس ئی هم هلته ولیدنو په کراره جیل ته ورننووت. د چراغ په رڼا کښی د سکندر سترګی په یوه ډیره ښائیسته سره سپینه لوړه د نګه جینۍ چه توری توری زلفی ئی ګډی وډی په مخ پرتی وی ولګیدی چه د دیوال سره ورانه پرته ده او د چراغ نیمګړی رڼائی سپینه سینه' غټی غټی او قوی قوی مټی به کښږ ي کښږ ی لکه لندۍ وریځی او سپین تندی روښانه کړی دی.

دسکندر چه لمړی سترګی په هغه جینۍ ولګیدی بی اختیاره ولړزېد پریشانه شو. پښوئی سستی وکړه او دېونامعلوم احساس سره سم ئی دڅیری نه نور والوت خوچه شاته ئې آرته بازېوس. کارانوس او نور افسران ولیدل نو په خودراغی او بیائی وچولی تر ېو کړو اوورو هغی بیغلی ته ور نژدی شو جینۍ چه د صراحی غاړی نه ئی واړه واړه دوینو څاڅکی راو تلې ؤ دسپیتی سېنی دسرنه ئی دتګو سرو وېنو لړې نری لښتی رابهر شوی ؤ، او شین کمیس ئی ورلـه لوند خیشت کړی ؤ. په پښوا ولاسو کښی ئی ځنځیرونه پرا ته واو ددېوال بیخ ته ئی ډډه اچولی وه او غټی غټی سترګی ئی دچراغ بلتی ته نیولی وی..

سکندر حیران حیران ارا کوزۍ ته کتل، څه ډېر ساعت په هماغه شان ؤ. بیا خدای خبر چه په زړه کښی ئی څه ګرځیدلی ؤ دلیونی په شان ئی یوزلی چیغه کړه او مخ ئی جرنیلانو ته راو ګرځـاوه وئی ویل:

تاسو ته وایم. تاسو دچا په اجازت داځنځیرونه اراوسپنی ددی جینۍ په پېښو اولاسونو کښی اچولی دی.؟؟

افسران چه دفاتح دناڅاپی چیغی نه ټول لکه دتوت پاڼه رپیدل رامخ کښی شول او په وېره وېره ئی جواب ورکړ:

اعلیحضرتا..! دا.. امر... اېری ژیئیوس کړی او دا کار دهغه دی

سکندر چه په مخ ئی د قهر او غضب خولی راماتی شوی وی او دستر کونه ئی داوربخری راوړل بائی په هماغه آواز وویل:

ایری ژیئوس ایری ژیئوس دفیلیپ (١) ځوی نه دی، سکندر دی او هغه سره دهرشی اختیار شته نه دبل چا سره..

آرته بازیوس به لړزیدلی آواز خوله جاړه کړه او وئی ویل:

اعلیحضرتا، هغه..

مقدونی په یو حرکت دهغه خبره پری کړه او بیا په خپله اراکوزی پیغلی ته چه دهغه په آواز بیداره شوی وه، ورنژدی شو او دیښو او لاسونو نه ئی ورله ځنځیرونه خلاص کړل..

دځنځیرونو خلاصولو نه بس چه سکندر ښه دجینی په حال پره شوی ؤ نو فوری ئی امرو کړ چه دهغه شخصی طبیب جیل ته دارا کوزی دعلاج او دوا درمل دپاره راولی.

مقدونی فاتح اوس هغه څه مخکښی سکندر نه ژ دارا کوزی په یوه دیدار بدل شوی و هر څه ئی دزړه نه وتلی ؤ تا به ویلی چه جادو پری و شو.

بی زړه بی زړه ئی لکه چه سړی مار لړم ته لاس ورنژدی کوی. پیغلی ته لاس وراوږد کړ او هغه ئی دځمکی نه راجګه کړه او دیوال ته ئی تکیه کړه.. هغه غریبه دومره کمزوری شوی وه چه نور به کښی

---

(١) دسکندر دپلار نوم دی.

دحرکت او خبرو توان نه ښکاریده. پوازی ئې ستر گو لیدل او باڼ ئې خوز یدل مقدونی هماغ شان ستر گې ارا کوزۍ ته نیولی وی کله سرار کله به ئې دهغې بښر ته کتل زړه ئې لکه صحرائی مرغۍ په سینه کښې بړتکی وهلی ښه شیبه وروسته طبیب جبل ته رابنوت، ارچه د سکندر، ستر گی په هغه ولګیدی بی واره ورنژدی شو او په بورطو خبرو ئې ورته وویل:

ها.. فیلوس، زه تا نه په لږ وخت کښې ددی جینۍ روغرالی غواړم، ددی جړیدل یو بانی پوځونو ته دومره اهمیت لری لکه... لکه... فاتح خبره ناتمامه پریښوده معلومه نه شوه چه څه مطلب ئې لرلو. بیا ئې طبیب ته اشاره وکړه او زیاته ئې کړه.

فیلوس! دا د تندر مشره ده. تندر خو ته پیژنی کنه؟ تندر هغه ډله ده چه... چه هغې څرڅو واری مونږ نه ددی خاوری تخلیه او پریښودل ویل او په زرگونو ځوانان ئې د تیدیاس به شان په وینو لړلی دی. طبیب چه په حقیقت پوه شو نو په حیرت ئې مقدونی ته وکتل او ددې کتلو په معنی سکندر ښه پوه شو خو بیا ئې څه ونه ویلی.

فیلوس د فاتح په حضور کښې، ارا کوزۍ ته ورنژدې شو. په زخمی سینه ئې ورته لاس کیښود او بیا ئې ورته د نرۍ سپینې غاړی په زخمونو گوتی و وهلی.. طبیب ښکته بورته هغه پیغله ولیدله دوجود هر زخم ئې د نظره تیر کړ بیا ئې سر راجګ کړ او

مقدونی ته ئی وویل .

اعلیحضرتا ! که دبخت یاری وی نو پیغله به دوه ورځی پس روغه رمټه کړم زخمونه ئی چندان هډ ته ندی رسیدلی سکندر چه دطبیب بیان واورید نوموسکی شو اود ځان سره ئی وویل .

امید دی چه اوس به اراکوز یافتح کړم خو ای کاش چه تیدیاس خونه وای ځوانیمرګ شوي اوما سره به دی جګړه کښې یوځای وای مقدونی ، فیلوس هماغه جیل کښې پریښوداوخپله افسرانو سره بهرلاړ : باران بریښنا ، بار او ګړ ګړ هرڅه قلار شوی ؤ اوچوپه چوپتیاوه . مقدونی په لاره کښې هیڅ ونه ویل یوازی ئی دځان سره جاج و هلو ، یاران هم ور پسی غلې غلې راروان ؤ او نرم نرم ګامونه به ئی وهل چه نه چیری دفاتح چرت او فکر خراب کړی . . .

په لاره کښې دمقدونی په فکرونو او جاجونو څوک پوه نه شو خو یوازی کله چه کمپ ته را ورسید او په ځای کښیناست نو مخ ئی آرته بازیوس ته راوګرځاوه اوبه محکمو الفاظوئې هغه ته وویل :

آرته بازیوس ! سبا سحر ته اراکوزیاته ، دخاص پیغام وړونکی ئې .

کله چه نظر ئی په تقدیر او په ازل شی بیا
نور نه قضا په مخکښې پر بوزی کوډ او شل شی بیا
هلته د تدبیر فکر تقدیر سره جګړه کښی
چېرته په کوم غار کښی د ملنګ په نوم تنبل شی بیا
کله چه هوس ورته تقدیر او حیا هېره کا
نور دلوټ مارا نور هزنا نو سره مل شي بیا
تل د رشوت خور غوندي په سپینه ورځ ادلی کړی
شرم حیا نه وی د غریب د نیا ته غل شی بیا
هېره ورته داسی ملنګی او داسی غلا کړه ته
دا زړه را نه واخله یو دردمند غوندی زړه را کړه ته
داسی یو زړه را کړه چه هم ځمکه هم اسمان وینی
لوړي او ژوری کناری د کهکشان وینی
کله ملکوت او جبروت نه حجاب لری کا
نور لکه حریم عرش او کرسی او لامکان وینی
هلته چه خیال سوزی تصور ورسیدی نشی
دی په یو لمحه کښې په هغو جلوؤ کښی ځان وینی
نور پکی تمیز بیا د واجب او د ممکن نه وی
بې دیوه وجود نه نه وجوب او نه امکان وینی
محوه ئی د مینی محبت تجلا کړه ته
دا زړه را نه واخله یو دردمند غوندي زړه را کړه ته
مینه به پکښی وی خو هغه مینه دښکلو ده
هغه بې قدره مینه خو د زړه نه دویستلو ده
محوه دی په ناز کښې دنیا ز نه هیڅ خبر نشو
دا بې درده غرښه خدایه! څو مره ددا غلو ده
زه وایم داوښکو د کې سترګی به لږ یادې کا
دی وائی د ناز ادا خو تل دیا دولو ده
زه وایم پترې به د پېرو شو نډو لږ وستائی
دی وائی د سرو شو نډو خندا خو دستائلو ده
دا بې درده زړه خو لږ به دود او په ژړا کړه ته
دا زړه را نه واخله یو دردمند غوندي زړه را کړه ته

دولتی مطبعه